علم النحو

پښتو

مولف:

مولانا مشتاق احمد چرتهاؤلي

ژباړن:

محمد رسول سعيد

صداقت کتب خانه کندهار

Download from:aghalibrary

علم النحو

Download from:aghalibrary

تالیف

مشتاق احمد چرتھاولي

ترجمہ:

محمد رسول سعید

صداقت کتب خانه

Download from:aghalibrary

د کتاب ټول حقوق په خپرندوی اړه لري!

د کتاب پېژندنه

- د کتاب نوم :علم النحو
- مؤلف : مشتاق احمد چرتهاولي
- ژباړن : محمد رسول سعید
- خپرندوی : **صداقت خپرندویه ټولنه/ کندهار**
- کمپوز / ډیزاین : صداقت د کتاب چاپولو اداره
- چاپ کال : ۱۳۹۳ش – ۲۰۱۴
- چاپ شمېر : ۱۰۰۰ ټوکه
- کچه : ۱۳/۵۰×۲۱ سانتي متره
- د مخونو شمېر : ۸۰ مخه


د تر لاسه کولو پته:

صداقت خپرندویه ټولنه

کندهار –افغانستان

اړیکي: ۰۷۰۰۳۰۵۴۰۷

Download from:aghalibrary



بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

نَحْمَدُهٗ وَنُصَلِّيْ عَلٰى رَسُوْلِهِ الْكَرِيْمِ

د علم النحو تعريف: علم النحو هغه علم دئ چي په هغه سره د اسم، فعل او حرف يو ځای کولو او جملې جوړولو ترکيب او د هري کلمې د آخري حرف حالت معلوميږي.

د علم النحو فائده: د دغه علم فائده داده چي انسان د عربي ژبي په ويلو او ليکلو کي د هر ډول غلطي څخه خوندي سي. د مثال په توګه: زَيْدٌ-دار-دَخَلَ-فِيْ. دغه څلور کلمې دي. اوس د دغه څلورو کلمو يو ځای کول او د هغو څخه جمله جوړول او په صحيح توګه ادا کول. دا هر څه د علم النحو څخه زده کيږي.

د علم النحو موضوع: د دغه علم موضوع کلمه او کلام دي.

فصل: کلمه او کلام

کومه خبره چي د انسان د ژبي څخه ووځي هغه ته لفظ وايي. بيا که لفظ معنی لرونکی وي نو د هغه نوم موضوع دی او که بې معنی وي نو هغه مهمل دی.

په عربي ژبه کي د موضوع لفظ دوه ډولونه دي:

۱. مفرد.

٢. مرکب.

مفرد: هغه یوازي لفظ ته وایي چې یوه معنی وښیي او هغه ته کلمه هم وایي.

د کلمې (لفظ) درې ډولونه دي:

١. اسم.
٢. فعل.
٣. حرف.

اسم:

هغه کلمه ده چې د بل لفظ سره د یو ځای کېدو ماسوا خپله معنی ورکړي او په هغه کې د درو زمانو (ماضي، حال، استقبال) څخه یوه زمانه هم نه وي. لکه: رَجُلٌ. عِلْمٌ. مِفْتَاحٌ.

د اسم درې ډولونه دي:

١. جامد.
٢. مصدر.
٣. مشتق.

جامد: هغه اسم دی چې نه د بل لفظ څخه جوړ سوی وي او نه بل لفظ د ده څخه جوړ سوی وي. لکه: رَجُلٌ، فَرَسٌ او داسي نور.

مصدر: هغه اسم دی چې خپله د بل لفظ څخه نه جوړیږي مګر د ده څخه ډېر الفاظ جوړیږي لکه: نَصْرٌ. ضَرْبٌ او داسي نور.

مشتق: هغه اسم دی چې د مصدر څخه جوړ سوی وي لکه : د ضَرْبٌ څخه ضَارِبٌ او د نَصْرٌ څخه نَاصِرٌ .

فعل:

فعل هغه کلمه ده چې د بل لفظ سره د یو ځای کېدو ماسوا معنی ورکړي او په هغه کې یوه زمانه هم وي لکه: نَصَرَ يَنْصُرُ ـ ضَرَبَ يَضْرِبُ.

د فعل څلورہ ولونه دي :

١. ماضي.

٢. مضارع.

٣. امر.

٤. نهي.

تعریفونه یې په علم الصرف کې بیان سوي دي.

حرف:

حرف هغه کلمه ده چې معنی ئې د بل لفظ سره د یو ځای کېدو ماسوا نه معلومیږي لکه : مِنْ. فِيْ. تر څو چې د دغه حروفو سره اسم یا فعل یو ځای نه سي نو هیڅ فائده نه ځینې اخیستل کیږي . لکه: خَرَجَ زَيْدٌ مِنَ الدَّارِ ـ دَخَلَ عَمْرٌ فِي الْمَسْجِدِ.

د حرف دوه ډولونه دي:

١. عامل.

٢. غیر عامل.

مرکب: هغه لفظ دی چې د دوو یا زیاتو کلمو په یو ځای کېدو سره جوړ سي. د مرکب هم دوه ډولونه دي:

۱. مرکب مفید.

۲. مرکب غیر مفید.

مرکب مفید: هغه دی چې کله ویونکی یوه خبره وکړي نو اورېدونکی ته د تېري پېښې خبر یا د یوې خبرې طلب معلوم وي. لکه: ذَهَبَ زَيْدٌ. زید ولاړ. اِئْتِ بِالْمَاءِ. اوبه راوړه.

د اولي خبري څخه اورېدونکی ته د زید د تګ خبر وسو او د دوهمي خبري څخه معلومه سوه چې ویونکی اوبه غواړي. مرکب مفید ته جمله او کلام هم وایي.

جمله پر دوه ډوله وي:

۱. جمله خبریه.

۲. جمله انشائیه.

جمله خبریه: هغه جملې ته وایي چې په هغه کې ویونکي ته ربښتونی یا درواغجن ویل کیدای سي. جمله خبریه پر دوه ډوله ده:

۱. جمله اسمیه.

۲. جمله فعلیه.

جمله اسمیه: هغه جملې ته وایي چې اوله برخه یې اسم وي او دوهمه برخه اسم وي یا فعل. لکه: زَيْدٌ عَالِمٌ او: زَيْدٌ عَلِمَ. په دغه جملو کې هره جمله اسمیه خبریه ده او اوله برخه یې مسند الیه ده چې مبتدا ورته وایي او دوهمه برخه یې مسند ده چې خبر ورته وایي.

د جمله اسميه خبريه په معنى کي دغه الفاظ وي : يم، سو، وو، دی.

جمله فعليه: هغه جمله ده چې اوله برخه يې فعل وي او دوهمه برخه فاعل وي، لکه : عَلِمَ زَيْدٌ. سَمِعَ بَكْرٌ ، په دغه جملو کي هره جمله فعليه ده او اوله برخه يې مسند ده چې فعل ورته وايي او دوهمه برخه يې مسند اليه ده چې فاعل ورته وايي.

مسند اليه هغه دی چې هغه ته د يو اسم يا فعل نسبت وسي او مبتداء ځکه ورته وايي چې په هغه سره د جملې ابتداء (شروع) کيږي.

مسند هغه دی چې بل ته نسبت وکړي او خبر ځکه ورته وايي چې دا د مخکي اسم د حال خبر ورکوي.

اسم مسند او مسند اليه دواړه کيدای سي لکه : زَيْدٌ عَالِمٌ. په دغه جمله کي زيد او عالم دواړه اسمونه دي او د عالم نسبت زيد ته کيږي. ځکه زيد مسند اليه او عالم مسند سو.

فعل يوازي مسند وي او مسند اليه نه کيږي. لکه: زَيْدٌ عَلِمَ او عَلِمَ زَيْدٌ. په دغه دواړو جملو کي د علم نسبت زيد ته کيږي ځکه علم مسند او زيد مُسند اليه دی،

حرف نه مسند وي او نه مسند اليه.

ترکيب : د جمله اسميه ترکيب داسي کيږي: زَيْدٌ مبتداء، عَالِمٌ خبر، د مبتداء او خبر په يو ځای کېدو سره جمله اسميه خبريه سوه.

د جمله فعليه ترکيب داسي کيږي: عَلِمَ فعل، زَيْدٌ فاعل، د فعل او فاعل په يو ځای کېدو سره جمله فعليه خبريه سوه.

ترکیب یې وکړئ

اَلطَّعَامُ حَاضِرٌ	اَلْمَاءُ بَارِدٌ	اَلْاِنْسَانُ حَاكِمٌ	جَلَسَ زَيْدٌ
ذَهَبَ عَمْرٌو	شَرِبَتْ هِنْدٌ	اَكَلَ خَالِدٌ	نَصَرَ بَكْرٌ

جمله انشائیه: هغه جمله ده چې په هغه کې ویونکې ته رېښتونی او درواغجن نه سې ویل کیدای ځکه د انشاء معنی د یو شي د پیدا کولو ده او دغه جمله هم د یو کار پیدا کول بنیي. رېښتیا او درواغ ته په هغه کې دخل نه وي. لکه: اِضْرِبْ، یعني وهل پیدا کړه.

انشائیه جمله څو قسمونه لري

۱. امر، لکه: اِضْرِبْ. ته وهل وکړه.

۲. نهي، لکه: لَاتَضْرِبْ. ته وهل مه کوه.

۳. استفهام، لکه: هَلْ ضَرَبَ زَيْدٌ. ایا زید وهل وکړه.

۴. تمنی، لکه: لَيْتَ زَيْدًا حَاضِرٌ. کاش زید حاضر وای.

۵. ترجی، لکه: لَعَلَّ عَمْرًا غَائِبٌ. کیدای سې عمرو غائب وي.

۶. عقود یعني معاملات، لکه: بِعْتُ وَاشْتَرَيْتُ. ما وپلورل او ما رانیول.

۷. نداء. لکه: يَاَاَللّٰه . اې الله.

۸. عرض. لکه: اَلَاتَاْتِيْنِى فَاُعْطِيَكَ دِيْنَارًا .ته ولي ما ته نه راځې چې تاته اشرفی درکړم.

۹. قسم. لکه: وَاللّٰهِ لَاَضْرِبَنَّ زَيْدًا .قسم په خدای. زه به زید خامخا ووهم.

۱۰. تعجب. لکه: مَااَحْسَنَهُ . يو شي هغه ښکلی کړ. اَحْسِنْ بِهِ . هغه څومره ښکلی دی.

مرکب غیر مفید: هغه دی چې کله ویونکی یو څه ووایي او اورېدونکی د هغه د خبرې څخه فائده. خبر او یا طلب حاصل نه کړي. د مرکب غیر مفید درې ډولونه دي :

۱- مرکب اضافي، ۲- مرکب بنائي، ۳- مرکب منع صرف.

۱: مرکب اضافي: هغه دی چې د یوه اسم اضافت بل اسم ته وسي . د کوم اسم اضافت چې سوی وي هغه ته مضاف او کوم اسم ته چې اضافت سوی وي هغه ته مضاف الیه وایي. لکه: غُلَامُ زَيْدٍ، دلته د غلام اضافت زید ته سوی دی نو غلام مضاف او زید مضاف الیه سو.

۲- مرکب بنائي: هغه دی چې دوه اسمونه یو سوی وي او په دواړو کې هیڅ نسبت اضافي یا اسنادي نه وي. همدارنګه د اول اسم دوهم اسم ته د ترون ورکولو یو حرف وي لکه د اَحَدَعَشَرَ څخه تر تِسْعَةَ عَشَرَ پورې چې په اصل کې اَحَدٌ وَعَشَرٌ وَتِسْعَةٌ وَعَشَرٌ وه.

فائده: د مرکب بنائي پر دواړو اسمو باندې همېشه فتحه (زور) وي

ماسیوا د اِثْنَا عَشَرَ څخه چې د هغه اوله برخه بدلیږي.

۳: مرکب منع الصرف: هغه دی چې دوه اسمونه یو کړي او د دواړو اسمو د تړون لپاره یو حرف نه وي لکه: بَعْلَبَکَّ. د یو بنار نوم دی چې د بعل او بک څخه مرکب دی. بعل د یو بت نوم دی او بک د بنار د جوړونکي پاچا نوم دی.

د مرکب منع صرف اوله برخه همېشه مفتوح وي او دوهمه برخه بدلیږي.

مرکب غیر مفید همېشه د جملې یوه برخه وي او خپله پوره جمله نه وي لکه: غُلَامُ زَيْدٍ حَاضِرٌ - جَاءَ اَحَدَ عَشَرَ رَجُلًا - اِبْرَاهِيْمُ سَاكِنُ بَعْلَبَكَّ.

د هر یوه ترکیب داسې دی: غلام مضاف. زید مضاف الیه. مضاف او مضاف الیه دواړه مبتدا. حاضر خبر. د مبتداء او خبر په یو ځای کېدو سره جمله اسمیه خبریه سوه.

جاء فعل. احد عشر ممیز. رجلا تمیز. تمیز او ممیز فاعل سوه. فعل او فاعل جمله فعلیه خبریه سوه.

ابراهیم مبتداء. ساکن مضاف. بعلبک مضاف الیه. مضاف او مضاف الیه خبر. مبتدا او خبر جمله اسمیه خبریه سوه.

ترکیب یې وکړئ

قَلَمُ زَيْدٍ نَفِيْسٌ قَامَ اَرْبَعَةَ عَشَرَ رَجُلًا خَالِدٌ تَاجِرٌ حَضَرَ مَوْتَ

فصل

د جملې ذاتي او صفاتي ډولونه

څرګنده دي وي چې هیڅ یوه جمله تر دوو کلمو کمه نه وي. یا خو دواړي کلمې په لفظونو کې موجود وي لکه: ضَرَبَ زَيْدٌ. او یا تقدیرًا وي لکه: اِضْرِبْ. چې اَنتَ پکښې پټ دی او په لفظونو کې موجود نه دی.

په جمله کې تر دوو زیاتې کلمې هم وي مګر د زیاتوب هیڅ حد یې نسته. کله چې د جملې لفظونه زیات وي نو په هغو کې باید اسم او فعل جلا کړل سي او باید وکتل سي چې معرب دی که مبني. عامل دی که معمول. او دا هم باید معلومه سي چې د کلماتو تعلق په خپلو کې څه ډول دی ددې لپاره چې مسند او مسند الیه ظاهر سي او د جملې صحیح معنی معلومه سي.

جمله د ذات په اعتبار پر څلورو ډولونه ده:

۱- اسمیه. ۲- فعلیه. ۳- شرطیه. ۴- ظرفیه.

۱. اسمیه لکه: زَيْدٌ قَائِمٌ.

۲. فعلیه لکه: قَامَ زَيْدٌ.

۳. شرطیه لکه: اِنْ تُكْرِمْنِيْ اُكْرِمْكَ.

۴. ظرفیه لکه: عِنْدِيْ مَالٌ.

د صفت په اعتبار د جملې شپږ ډولونه دي:

۱. مبينه. چي مخکي په ښکاره بيان کړي لکه: اَلْکَلِمَةُ عَلَى ثَلَثَةِ اَقْسَامٍ۔ اِسْمٌ وَ فِعْلٌ وَ حَرْفٌ۔ . په دغه مثال کي د اولي جملې مطلب واضح نه وو چي هغه کوم دري ډولونه دي. دوهمه جملې هغه بيان کړل چي هغه ډولونه اسم. فعل او حرف دي.

۲. مُعَلَّله. چي د مخکي جملې علت بيان کړي. لکه چي په حديث شريف کي دي: لَاتَصُوْمُوْا فِي هَذِهِ الْاَيَّامِ فَاِنَّهَا اَيَّامِ اَكْلٍ وَشُرْبٍ وَبِعَالٍ. تاسو روژه مه نيسئ په دغه پنځو ورځو کي (اخترونه او د تشريق ورځي) ځکه هغه د خوراک. څښاک او جماع ورځي دي د دغه حديث شريف په اولي جمله کي د پنځو ورځو د روژو نيولو څخه منعه سوې ده او علت يې په دوهمه جمله کي بيان سوی دی چي هغه د خوراک. څښاک او جماع ورځي دي.

۳. معترضه. چي د دوو جملو په منځ کي بې پيوسته واقع وي لکه: قَالَ اَبُوْحَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ اَلنِّيَّةُ فِي الْوُضُوْءِ لَيْسَتْ بِشَرْطٍ . په دغه مثال کي رحمة الله عليه جمله معترضه ده چي د مخکي او وروسته کلام سره يې هيڅ تعلق نسته.

۴. مستانفه. هغه جمله ده چي په هغه سره نوی کلام شروع سي لکه: اَلْکَلِمَةُ عَلَى ثَلَثَةِ اَقْسَامٍ .د غه جملې ته ابتدائيه هم وايي.

۵. حاليه. هغه جمله ده چي حال واقع وي. لکه: جَاءَنِي زَيْدٌ وَهُوَ رَاكِبٌ.

٦. معطوفه. هغه جمله ده چي پر مخکي جملې عطف کړل سي لکه: جَاءَنِي زَيْدٌ وَ ذَهَبَ.

فصل: د اسم علامې (نښې)

د اسم يوولس علامې (نښې) دي :

١) الف لام يې په سر کې وي لکه: اَلْحَمْدُ .

٢) حرف جر يې په سر کې وي لکه: بِزَيْدٍ.

٣) تنوين يې په آخر کې وي لکه: زَيْدٌ .

٤) مسند اليه وي لکه : زَيْدٌ قَائِمٌ .

٥) مضاف وي لکه : غُلَامُ زَيْدٍ.

٦) مصغر وي لکه : قُرَيْشٌ. رُجَيْلٌ.

٧) منسوب وي لکه : بَغْدَادِيٌّ. هِنْدِيٌّ.

٨) تثنيه وي لکه : رَجُلَانِ.

٩) جمع وي لکه : رِجَالٌ.

١٠) موصوف وي لکه : رَجُلٌ كَرِيْمٌ .

١١) حرکت لرونکې تاء ورسره يو ځای وي لکه : ضَارِبَةٌ.

فائده: څرګنده دي وي چې فعل تثنيه يې جمع نه وي او د فعل کومې صيغې چې تثنيه يا جمع بلل کيږي هغه د فاعل په اعتبار وي لکه: فَعَلَا. يَفْعَلَانِ. هغه دوو خلګو وکړ. هغه دوه خلګ يې کوي.

همدارنګه : فَعَلُوْا . يَفْعَلُوْنَ . ډېرو خلګو وکړه. ډېر خلګ يې کوي .
د دغه جملو دا مطلب نه دی چې دوه کاره يې وکړه يا ډېر کارونه يې
وکړه . کاريې يو کړی دی مګر کوونکي يې دوه يا ډېر دي .

د فعل علامې (نښې)

د فعل اته علامې (نښې) دي :

١) قد يې په سر کي وي لکه : قَدْ ضَرَبَ . بېشکه هغه وهل کړي دي .

٢) سين يې په سر کي وي لکه: سَيَضْرِبُ . ژر دی چې وهل به وکړي .

٣) سوف يې په سر کي وي لکه: سَوْفَ يَضْرِبُ . ژر دی چې وهل به وکړي .

٤) حرف جزم باندې داخل وي لکه : لَمْ يَضْرِبْ .

٥) ضمير متصل وي لکه: ضَرَبْتُ.

٦) په اخر کي تاء ساکن وي لکه: ضَرَبَتْ.

٧) امر وي لکه: اِضْرِبْ

٨) نهي وي لکه : لَاتَضْرِبْ .

د حرف علامه داده چې په هغه کي د اسم او فعل علامه نه وي او حقيقت دادی چې په کلام کي حرف مقصد نه وي بلکه هغه د ربط لپاره وي او دغه ربط کله په دوو اسمو کي وي لکه: زَيْدٌ فِي الدَّارِ . يا په يوه اسم او يوه فعل کي وي لکه: كَتَبْتُ بِالْقَلَمِ . يا په دوو فعلو کي وي لکه: اُرِيْدُ اَنْ اُصَلِّيَ .

فصل: معرب او مبني

د آخري حرف د بدلون په اعتبار د کلمې دوه ډوله دي. ١: معرب. ٢: مبني.

معرب: هغه کلمه ده چې آخري حرف يې همېشه بدليږي. نو په کوم سبب چې بدليږي هغه ته عامل وايي او کوم شی چې په آخري حرف سره بدليږي هغه ته اعراب وايي. اعراب پر دوه ډوله دی ١: حرکتي لکه ضمه. فتحه. کسره. ٢: حرفي لکه: الف. واو. یاء. آخري حرف ته محل اعراب وايي لکه: جَاءَزَيْدٌ. په دغه جمله کي جاء عامل دی او زيد ضمه لري. په: رَاَيْتُ زَيْدًا. کي رايت عامل دی او پر زيد فتحه ده او په: مَرَرْتُ بِزَيْدٍ .کي باء حرف جار عامل دی او پر زيد باندې کسره ده. نو زيد معرب دی او د زيد آخري حرف يعني دال محل اعراب دی او ضمه. فتحه. کسره اعراب دي.

مبني: هغه کلمه ده چې همېشه پر يوه حال وي يعني د عامل په بدلېدو سره د هغه په آخري حرکت کي هيڅ بدلون نه راځي لکه: جَاءَ هَذَا۔ رَاَيْتُ هَذَا۔ مَرَرْتُ بِهَذَا . په دغه مثالو کي هذا مبني دی چې په هر حالت کي يو ډول دی.

مبني آن باشد که ماند برقرار　　معرب آن باشد که گردد باربار

د مبني او معرب اقسام

په ټولو اسمونو کي يوازي اسم غير متمکن مبني دی او په افعالو کي فعل ماضي ، امر حاضر معروف او فعل مضارع چي په هغه کي نون جمع مؤنث او نون تاکيد وي او ټول حروف مبني دي . اسم متمکن معرب دی په شرط ددې چي په ترکيب کي واقع وي او بيله ترکيبه مبني دی متمکن ځکه ورته وايي چي د متمکن معنی د ځای ورکولو ده او ځرنګه چي دغه اسم اعراب ته ځای ورکوي نو متمکن ورته وايي او دغه مبني د اصل مشابه هم نه وي .

فعل مضارع معرب ده. په شرط ددې چي د نون جمع مؤنث او نون تاکيد څخه خالي وي . ددغه دوو ډولو څخه ماسوا نور معرب نه وي يعني يو هغه اسم چي د مبني اصل مشابه نه وي او يو فعل مضارع چي د نون جمع مؤنث او نون تاکيد څخه خالي وي .

اسم غير متمکن: هغه اسم دی چي چي د مبني اصل مشابه وي . مبني الاصل درې دي. ۱: فعل ماضي. ۲: امر حاضر معروف. ۳: ټول حروف ، دغه مشابهت پر څو ډوله وي يا خو په اسم کي د مبني اصل معنی وي لکه په اين کي د همزه استفهام معنی وي او همزه استفهام حرف مبني الاصل دی ، او په هيهات کي د ماضي معنی ده او روید د امر حاضر په معنی دی ، ماضي او امر مبني الاصل دي . يا لکه حروف چي محتاج وي، همداسي په اسم غير متمکن کي احتياج وي لکه اسماء موصوله. اسماء اشاره چي د صله او مشار اليه محتاج وي ، يا په اسم غير متمکن کي تر درو حروفو کم وي لکه :من. ذا، يا د هغه يوه برخه حرف تد شامل وي لکه احد عشر. چي په اصل کي احد وعشر وو .

فصل: د اسم غیر متمکن اقسام

د اسم غیرمتمکن یا مبني اته قسمونه دي، ۱: مضمرات، ۲: اسماء موصوله، ۳: اسماء اشاره، ۴: اسماء افعال، ۵: اسماء أصوات، ۶: اسماء ظروف. ۷: اسماء کنایات، ۸: مرکب بنائي.

د مضمراتو پنځه قسمونه دي، ۱: مرفوع متصل، ۲: مرفوع منفصل، ۳: منصوب متصل، ۴: منسوب منفصل، ۵: مجرور متصل.

ضمیر مرفوع متصل (یعني د فاعل هغه ضمیر چې د فعل سره وي) څوارلس دي:

ضَرَبْتُ ضَرَبْنَا ضَرَبْتَ ضَرَبْتُمَا ضَرَبْتُمْ ضَرَبْتِ ضَرَبْتُمَا ضَرَبْتُنَّ

ضَرَبَ ضَرَبَا ضَرَبُوْا ضَرَبَتْ ضَرَبَتَا ضَرَبْنَ

ضمیر مرفوع منفصل (یعني د فاعل هغه ضمیر چې د فعل څخه جلا وي) څوارلس دي:

اَنَا. نَحْنُ، اَنْتَ. اَنْتُمَا. اَنْتُمْ. اَنْتِ. اَنْتُمَا. اَنْتُنَّ. هُوَ. هُمَا. هُمْ، هِيَ. هُمَا. هُنَّ

پاملرنه! ضمیر مرفوع د اسم فاعل څخه ماسوا په نورو مرفوعاتو کې هم رائي دلته یوازي د اساني لپاره د فاعل ذکر سوی دی.

ضمیر منصوب متصل (یعني د مفعول هغه ضمیر چې د فعل سره وي) څوارلس دي:

ضَرَبَنِي ضَرَبَنَا ضَرَبَكَ ضَرَبَكُمَا ضَرَبَكُمْ ضَرَبَكِ ضَرَبَكُمَا ضَرَبَكُنَّ ضَرَبَهُ

ضَرَبَهُمَا ضَرَبَهُنَّ ضَرَبَهَا ضَرَبَهُمَا ضَرَبَهُنَّ

ترکیب: ضرب فعل. په هغه کي هو ضمیر فاعل. د نون وقایه یا، ضمیر متکلم مفعول. فعل د خپل فاعل او مفعول به سره جمله فعلیه خبریه سوه.

ضمیر منصوب منفصل (یعني د مفعول به هغه ضمیر چي د فعل څخه جلا وي) څوارلس دي:

اِیَایَ اِیَانَا اِیَاکَ اِیَاکُمَا اِیَاکُمْ اِیَاکِ اِیَاکُمَا اِیَّاکُنَّ اِیَّاهُ اِیَّاهُمَا اِیَّاهُمْ اِیَّاهَا اِیَّاهُمَا اِیَّاهُنَّ.

پاملرنه! ضمیر منصوب د اسم مفعول څخه ماسوا په نورو منصوباتو کي هم راځي دلته یوازي د اساني لپاره د مفعول ذکر سوی دی.

ضمیر مجرور متصل هم څوارلس دي او پر دوه ډوله دي: یو هغه چي حرف جر ور باندي داخل وي او دوهم هغه چي مضاف ورباندي داخل وي:

ضمیر مجرور په حرف جر سره:

لِی. لَنَا. لَکَ. لَکُمَا. لَکُمْ. لَکِ. لَکُمَا. لَکُنَّ. لَهُ. لَهُمَا. لَهُمْ. لَهَا. لَهُمَا. لَهُنَّ.

ضمیر مجرور په اضافت:

دَارِیْ. دَارُنَا. دَارُکَ. دَارُکُمَا. دَارُکُمْ. دَارُکِ. دَارُکُمَا. دَارُکُنَّ. دَارُهُ. دَارُهُمَا. دَارُهُمْ. دَارُهَا. دَارُهُمَا. دَارُهُنَّ

فائده: کله د جملې اول ضمیر غائب بېله مرجع واقع وي نو که چیري هغه ضمیر د مذکر وي نو ضمیر شان ورته وایي او که ضمیر مؤنث وي

نو ضمير قصه، د ضمير ورو سته جمله د هغه تفسير کوي لکه: انه زيد قائم، په تحقيق سره زيد ولاړ دی، او : انها زينب قائمة، په تحقيق سره قصه داده چې زينب ولاړه ده .

اسماء موصوله

اَلَّذِیْ	اَلَّذَانِ	اَلَّذَيْنِ	اَلَّذِيْنَ	
هغه يو سړی	هغه دوه خلګ	هغه دوه خلګ	هغه ډير خلګ	
اَلَّتِی	اَلَّتَانِ	اَللَّتَيْنِ	اَللَّاتِیْ	اَللَّوَاتِیْ
هغه يوه ښځه	هغه دوې ښځې	هغه دوې ښځې	هغه ډيرې ښځې	هغه ډيرې ښځې
مَا	مَنْ	اَیّ	اَیَّةٌ	
څشي	څوک	کوم	کومه	

او الف لام په معنی د الذي اسم فاعل او اسم مفعول دي. لکه: الضارب په معنی د الذي ضَرَبَ، او المضروب په معنی د الذي ضُرِبَ، او ذوچې معنی د الذي د بني طی قبيلې په ژبه کي. لکه جَاءَ ذُوْ ضَرَبَکَ يعني اَلَّذِیْ ضَرَبَکَ. اَیٌّ وَاَیَّةٌ معرب دي او بيله اضافته نه استعماليږي .

فائده: اسم موصول هغه اسم دی چې د جملې پوره جز او بيله صلې نه رائي او صله جمله خبريه وي چې په هغه کي ضمير موصول ته راګرځيدونکی وي لکه : جَاءَ الَّذِی اَبُوْهُ عَالِمٌ . راغلی هغه سړی چې پلار يې عالم دی .

ترکیب: جاء فعل، الذي اسم موصول، ابو مضاف، ه ضمیر مضاف الیه . مضاف او مضاف الیه مبتداء، عالم خبر، مبتدا او خبر جمله اسمیه صله سوه، صله او موصول اسم فاعل د جاء، جاء فعل د خپل فاعل سره جمله فعلیه خبریه سوه .

ترکیب یې وکړئ:

جَاءَ الَّذِی ضَرَبَکَ، رَاَیْتُ الَّذِیْنَ ضَرَبَاکَ، مَرَرْتُ بِالَّذِیْنَ ضَرَبُوْکَ، اَکْرِمْ مَنْ اَکْرَمَکَ، قَرَاْتُ مَا کَتَبْتُ.

اسماء اشاره

اسماء اشاره پر دوه ډوله دي، ۱: اشاره قریب، ۲: اشاره بعید.

اشاره قریب (نژدې) دادي:

مذکر	هٰذَا	هٰذَانِ	هٰؤُلَاءِ
	دغه یو سړی	دغه دوه خلک	دغه ډیر خلک
مؤنث	هٰذِهِ	هَاتَانِ	هٰؤُلَاءِ
	دغه یوه ښځه	دغه دوې ښځې	دغه ډیرې ښځې

اسماء اشاره بعید (لیرې) دادي:

مذکر	تِلْکَ	ذَانِکَ	اُولٰئِکَ
	هغه یو سړی	هغه دوه خلک	هغه ډیر خلک
مؤنث	تِلْکَ	تَانِکَ	اُولٰئِکَ
	هغه یوه ښځه	هغه دوې ښځې	هغه ډیرې ښځې

فائده: په کوم لفظ چې اشاره وسي هغه اسم اشاره او چا ته چې اشاره وسي هغه مشار الیه بلل کیږي لکه: هَذَا الْقَلَمُ نَفِيْسٌ . په دغه مثال کې هذا اسم اشاره او قلم مشار الیه دی .

ترکیب: هذا اسم اشاره. القلم مشار الیه. اشاره او مشار الیه مبتدا سوه او نفیس خبر سو . مبتدا او خبر جمله اسمیه خبریه سوه .

ترکیب یې وکړئ :

هَذَا الْبَيْتُ قَدِيْمٌ - هَؤُلَاءِ اِخْوَانُ سَعِيْدٍ - هَذِهِ الْمَرْاَةُ صَالِحَةٌ -

هَاتَانِ الْبِنْتَانِ اُخْتَانِ - اُولَئِكَ طُلَّابُ الْمَدْرَسَةِ

اسماء افعال

اسماء افعال هغه اسمونه دي چې د فعل په معنی وي. اسماء افعال پر دوه ډوله دي :

۱: د امر حاضر معنی لکه: رُوَيْدَ:(پریږده). بَلْهَ:(پریږده). حَيَّهَلْ: (متوجه سه) . هَلُمَّ :(راسه). دُوْنَكَ:(واخله). عَلَيْكَ:(لازم کړه). هَا:(ونیسه).

۲: د فعل ماضي په معنی لکه: هَيْهَاتَ:(لیرې سو). شَتَّانَ: (بېل سو). سَرْعَانَ:(تلوا ویې وکړ).

اسماء اصوات

لکه: اُخْ اُخْ: (تهوکی)، اُفْ: (د فریاد آواز)، بَخٍ: (د وادۀ ښه)، نَخٍ: (د

اوښ کښېښولو آواز)، غَاقَ: (د کارګه آواز).

اسماء ظروف

۱: ظرف زمان لکه: إِذْ- إِذَا- مَتَى- کَيْفَ- اَيَّانَ- اَمْسِ- مُذْ- مُنْذُ- قَطُّ- عَوْضُ- قَبْلَ- بَعْدَ.

إِذْ: دغه لفظ دماضي لپاره راځي که څه هم پر مستقبل داخل وي او د هغه وروسته جمله اسميه او جمله فعليه ډواړه راتلای سي. لکه: جِئْتُکَ اِذْ طَلَعَتِ الشَّمْسُ وَاِذَ الشَّمْسُ طَالِعَةٌ.

إِذَا: دغه لفظ د مستقبل لپاره راځي او ماضي هم د مستقبل په معنی کوي لکه: اِذَاجَاءَنَصْرُاللهِ. او: آتِيْکَ اِذَا طَلَعَتِ الشَّمْسُ. او کله د مفاجات لپاره هم راځي لکه: خَرَجْتُ فَاِذَا السَّبُعُ وَاقِفٌ. زه ولاړم نو ناڅاپه درنده ولاړوو.

مَتٰى: دغه لفظ د شرط او استفهام لپاره راځي لکه: مَتَى تَصُمْ اَصُمْ. کله چې ته روژه نیسې نو زه یې هم نیسم. دا د شرط مثال دی. او: مَتَى تُسَافِرُ. ته کله سفر کوې؟ دا د استفهام مثال دی.

کَيْفَ: دغه لفظ د حال د پوښتنې لپاره راځي لکه: کَيْفَ اَنْتَ / فِی اَیِّ حَالٍ اَنْتَ. ستا حال څنګه دی؟

اَيَّانَ: دغه لفظ د وخت د پوښتنې لپاره استعمالیږي لکه: اَيَّانَ يَوْمُ

الدِّينِ ، د جزاء ورځ کومه ده؟ .

اَمْسِ: لکه: جَاءَنِي زَيْدٌ اَمْسِ ، زيد ما ته پرون راغلی .

مُذْ- مُنْذُ: دغه دواړه الفاظ د کار لومړنی وخت ښيي لکه: مَارَاَيْتُهُ مُذْيَوْمِ الْجُمْعَةِ ، ما هغه د جمعې د ورځې څخه نه دی لیدلی، او د تهول وخت لپاره هم راځي لکه: مَارَاَيْتُهُ مُذْيَوْمَيْنِ. ما هغه د دوو ورځو څخه نه دی لیدلی.

قَطُّ: دغه لفظ د ماضي منفي د تاکید لپاره راځي لکه: مَاضَرَبْتُهُ قَطُّ. ما هغه هیڅکله نه دی وهلی .

عَوْضُ: د دغه لفظ د مستقبل منفي د تاکید لپاره راځي لکه: لَااَضْرِبُهُ عَوْضُ . زه هغه هیڅکله نه وهم .

قَبْلَ- بَعْدَ: چې مضاف وي او مضاف الیه د متکلم په نیت کې وي. لکه د الله ﷻ دغه قول: لِلّٰهِ الْاَمْرُ مِنْ قَبْلُ وَ مِنْ بَعْدُ اَیْ مِنْ قَبْلِ كُلِّ شَيْءٍ وَ مِنْ بَعْدِ كُلِّ شَيْءٍ ، او لکه: اَنَا حَاضِرٌ مِنْ قَبْلُ . يعني مِنْ قَبْلِكَ مَتَى تُجِيْئُنَا بَعْدُ. يعني بَعْدَ هَذَا.

۲: ظرف مکان: حَيْثُ. قدَّامُ. خَلْفَ. تَحْتَ. فَوْقَ. عِنْدَ. اَيْنَ. لَدَى لَدُنْ.

حَيْثُ: دغه لفظ زیات وختونه جملې ته مضاف وي لکه . اِجْلِسْ حَيْثُ

زَيْدٌ جَالِسٌ يعني اِجْلِسْ مَكَانَ جُلُوسِ زَيْدٍ.

قدَّامُ . خَلْفَ : لكه: قَامَ النَّاسُ قُدَّامْ وَخَلْفُ. يعني قُدَّامَهُ وَخَلْفَهُ.

تَحْتَ، فَوْقَ، لكه: جَلَسَ زَيْدٌ تَحْتَ وَصَعِدَ عَمْرٌ وَفَوْقَ اَىْ تَحْتَ الشَّجَرَةِ وَفَوْقَ الشَّجَرَةِ مَثَلاً.

عِنْدَ. لكه: اَلْمَالُ عِنْدَ زَيْدٍ. د زيد سره مال دى.

اَيْنَ. اَنّٰى: د استفهام لپاره راځي لكه: اَيْنَ تَذْهَبُ. ته چيرې ځې؟ اَنّٰى تَقْعُدُ. ته چيرې كښېنې؟ . او يا د شرط لپاره راځي لكه: اَنّٰى تَجْلِسْ اَجْلِسُ. چيرې چې ته كښېنې هلته زه كښېنم. اَنّٰى تَذْهَبْ اَذْهَبُ . چيرې چې ته ځې هلته زه ځم. او اَنّٰى كَيْفَ .په معنى هم راځي كله چې د فعل وروسته راسي لكه د الله ﷻ دغه قول: فَأْتُوا حَرْثَكُمْ اَنّٰى شِئْتُمْ اَىْ كَيْفَ شِئْتُمْ. نو تاسو راځئ خپل كښت ته څرنګه چې وغواړئ.

لَدَى. لَدُنْ: دغه دواړه د عند په معنى راځي او فرق يې دادى چې په عند كې د يو شي قبضه او ملك كېدل كافي وي او هر وخت ورسره موجود كېدل ضروري نه وي لكه: اَلْمَالُ عِنْدَ زَيْدٍ . د زيد سره مال دى، كه په خزانه كې وي او كه د هغه سره موجود وي، او: اَلْمَالُ لَدَى زَيْدٍ ، هغه وخت ويل كيږي چې مال د زيد سره وي، نو عند عام دى او لدى ولدن خاص دي، نبه فكر وكړه.

١ - **فائده:** قَبْلُ. بَعْدُ. تَحْتُ. فَوْقُ. قُدَّامُ. خَلْفُ. حَيْثُ. قَطُّ. عَوْضُ. مبني پر ضمه وي. او: اَيَّانَ. كَيْفَ. اَيْنَ. مبني پر فتحه دي او اَمْسِ مبني پر كسره دى. پاته ظروف مبني پر سكون دي.

٢ - **فائده:** غير مبني ظروف چې جملې يا اذا ته مضاف وي نو د هغو پر فتحه مبني كېدل جائز دي لكه د الله جل جلاله دغه قول: هَذَا يَوْمُ يَنْفَعُ الصَّادِقِيْنَ صِدْقُهُمْ. دلته د يوم مفتوح ويل جائز دي لكه يَوْمَئِذٍ حِيْنَئِذٍ.

اسماء كنايات

يعني هغه اسم چې پر يو مبهم شي دلالت كوي لكه: كَمْ - كَذَا .دغه الفاظ د عدد څخه كنايه دي او: كَيْتَ - ذَيْتَ. د خبري كنايه ده.

مركب بنائي لكه: اَحَدَعَشَرَ.

فصل: اسم منسوب

د اسم په آخر کي د نسبت لپاره یاء مشدده او تر هغه مخکي د کسرې په زیاتولو سره چي کوم اسم جوړیږي هغه ته اسم منسوب وایي.

د اسم په آخر کي د نسبتي یاء راوړلو څخه دا معلومیږي چي د هغه سره د یو شي تعلق دی لکه: بَغْدَادِيٌّ. د بغداد اوسیدونکی. یا د بغداد پیدا سوی شی. او: هِنْدِيٌّ. د هند اوسیدونکی یا د هند پیدا سوی شی. صَرْفِيٌّ. د صرف په علم پوه. نَحْوِيٌّ. د نحو په علم پوه.

لاندي د نسبت اړوند یو څو قاعدې لپکل کیږي:

۱: که الف مقصوره د کلمې په دریم یا څلورم ځای کي واقع وي نو هغه په واو بدلیږي لکه د عِيْسَى څخه عِيْسَوِيٌّ. د مَوْلَى څخه مَوْلَوِيٌّ. او که الف مقصوره په پنځم ځای کي واقع وي نو هغه ایسته کیږي لکه د مُصْطَفَى څخه مُصْطَفِيٌّ.

۲: د الف ممدوده دوهم الف په واو بدلیږي لکه د سَمَاءٌ څخه سَمَاوِيٌّ او د بَيْضَاءُ څخه بَيْضَاوِيٌّ.

۳: په کوم اسم کي چي یاء مشدده د مخکي څخه موجود وي هلته د نسبتي یاء راوړلو ضرورت نسته لکه شَافِعِيٌّ. د یو امام نوم دی. او شَافِعِيٌّ د شافعي مذهب لرونکو ته هم وایي.

۴: که په اسم کي د تانیث تاء وي نو هغه د نسبت پر وخت ایسته کیږي

لکه د کُوفَةٌ څخه کُوفِيٌّ او د مَكَّةٌ څخه مَكِيٌّ . همدارنګه کوم اسم چې د فَعِيلَةٌ او فُعَيْلَةٌ پر وزن وي د هغه تاء هم ایسته کیږي لکه د مَدِينَةٌ څخه مَدَنِيٌّ او د جُهَيْنَةٌ څخه جُهَنِيٌّ.

۵: کوم اسم چې د فَعِيلٌ پر وزن وي او آخر یې یاء مشدد وي نو اول خو یاء په واو بدلیږي او واو ته د فتحې په ورکولو سره یاء نسبت راوړل کیږي لکه د عَلِيٌّ څخه عَلَوِيٌّ او د نَبِيٌّ څخه نَبَوِيٌّ.

۶: که چیرې یاء څلورم ځای د کسرې ورسته واقع وي نو د یاء ایسته کول او په واو بدلول دواړه جائز دي لکه د دِهْلِيٌ څخه دِهْلِيٌّ او دِهْلَوِيٌّ .

۷: که د یو اسم د آخر څخه حرف اصلي ایسته سوی وي نو د نسبت په وخت کې هغه بیرته راوړل کیږي لکه د اَخٌ څخه اَخَوِيٌّ . د اَبٌ څخه اَبَوِيٌّ او د دَمٌ څخه دَمَوِيٌّ.

۸: د ځینو الفاظو نسبت د قیاس خلاف راځي لکه د نُوْرٌ څخه نُوْرَانِيٌّ . د حَقٌّ څخه حَقَانِيٌّ . د رَیٌ څخه رَازِيٌّ او د بَادِيَةٌ څخه بَدَوِيٌّ .

فصل: اسم تصغير

په کوم اسم کي چي د کوچنيوالي يا سپکاوي معنی وي هغه اسم تصغير بلل کيږي.

د اسم تصغير ضروري قاعدې

١: د دري حرفيزه اسم تصغير د فُعَيْلٌ پر وزن راځي لکه د رَجُلٌ څخه رُجَيْلٌ او د عَبْدٌ څخه عُبَيْدٌ.

٢: د څلور حرفيز اسم تصغير د فُعَيْعِلٌ پر وزن راځي لکه د جَعْفَرٌ څخه جُعَيْفِرٌ.

٣: د پنځه حرفيز اسم تصغير د فُعَيْعِيْلٌ پر وزن راځي په شرط د دې چي پنځم حرف يې مد لين وي لکه د قِرْطَاسٌ څخه قُرَيْطِيْسٌ. او که څلورم حرف مدلين نه وي نو د هغه پنځم حرف ايسته کيږي او تصغير يې د فُعَيْعِلٌ پر وزن راځي لکه د سَفَرْجَلٌ څخه سُفَيْرِجٌ.

١ - **فائده**: د مؤنث سماعي تاء په تصغير کي ظاهريږي لکه د اَرْضٌ څخه اُرَيْضَةٌ او د شَمْسٌ څخه شُمَيْسَةٌ.

٢ - **فائده**: د کوم اسم آخري حرف چي حذف سوی وي هغه په تصغير کي بېرته راځي لکه اِبْنٌ- بُنَيٌّ- اِبْنٌ. چي په اصل کي بَنْوٌ وه.

فصل: معرفه او نکره

د اسم د عموم او خصوص په اعتبار پر دوه ډوله دی:

۱. معرفه.

۲. نکره.

معرفه: هغه اسم دی چې د یو خاص شي لپاره اپښودل سوی وي. د معرفه اووه ډوله دي:

۱: ضمیر: هغه اسم دی چې د نامه پر ځای ویل کیږي لکه: هُوَ. اَنَا. نَحْنُ.

۲: علم: هغه اسم دی چې د یو خاص ځای. سړي او یا یوشي نوم وي لکه: زَیْدٌ. دِهْلِیْ. زَمْزَمُ.

۳: اسم اشاره: یعني هغه اسم چې په هغه سره یو شي ته اشاره وسي لکه: هَذَا. ذَالِک.

۴: اسم موصول: یعني هغه اسم چې د صلې سره یو ځای د جملې جز سي لکه: اَلَّذِی. اَلَّتِی.

۵: معرفه باللام: یعني هغه نکره اسم چې الف لام ور باندې داخل کړي او معرفه یې کړي لکه: اَلرَّجُلُ.

۶: هغه اسم چې د دغه پنځو ډولو څخه یوه ته مضاف وي. مثالونه یې په ترتیب سره دادي:

غُلَامُهُ. فَرَسُكَ. كِتَابِي. غُلَامُ زَيْدٍ. سَاكِنُ الدَّهْلِي. مَاءُ زَمْزَمَ. كِتَابُ هَذَا. فَرَسُ ذَالِكَ. غُلَامُ الَّذِيْ. عِنْدَكَ. بِنْتُ الَّتِي. ذَهَبَتْ. قَلَمُ الرَّجُلِ.

۷: معرفه په نداء، يعني هغه اسم چي د بللو په وجه معرفه سي لکه: يَارَجُلُ، په دغه جمله کي ياء حرف نداء دی او رجل منادي دي.

نکره: هغه اسم دی چي غير معين يعني عام شي ليپاره اپښودل سوی وي لکه: فَرَسٌ، د يو خاص آس نوم دی بلکه هر آس ته په عربي ژبه کي فرس وايي، او که فَرَسُ زَيْدٍ يا فَرَسُ هَذَا ووايي نو خاص او معرفه سو.

فصل: مذکر او مؤنث

اسم د جنس په اعتبار پر دوه ډوله دی:

۱. مذکر (نارینه).

۲. مؤنث (ښځینه).

مذکر: هغه اسم دی چې په هغه کې د تانیث علامه نه لفظي او نه تقدیري وي لکه: رَجُلٌ. فَرَسٌ.

مؤنث: هغه اسم دی چې په هغه کې د تانیث علامه لفظي یا تقدیري موجود وي.

د علامې په اعتبار د مؤنث دوه ډوله دي: قیاسي او سماعي.

مؤنث قیاسي: هغه مؤنث دی چې د تانیث علامه په الفاظو کې موجود وي. د تانیث لفظي علامې درې دي:

۱: تاء. که حقیقتا وي لکه: طَلْحَةُ. یا حکما وي لکه: عَقْرَبٌ. په دغه لفظ کې څلورم حرف د تانیث د تاء په حکم کې دی.

۲: الف مقصوره زائده لکه: حُبْلَى. صُغْرَى. کُبْرَى.

۳: الف ممدوده لکه: حَمْرَاءُ. بَيْضَاءُ.

مؤنث سماعي: هغه مؤنث دی چې د تانیث علامه پکښې پټه وي لکه اَرْضٌ او شَمْسٌ چې په اصل کې اَرْضَةٌ او شَمْسَةٌ وه. ځکه د دغه الفاظو تصغیر اُرَيْضَةٌ، شُمَيْسَةٌ دي او د تصغیر څخه د هغو اصلي حالت ظاهریږي. نو داسې مؤنث چې تاء پکښې ظاهرا موجود نه وي او په اصل کې وي، مؤنث سماعي بلل کیږي.

د ذات په اعتبار د مؤنث دوه ډولونه دي : حقيقي او لفظي .

مؤنث حقيقي: هغه مؤنث دی چي د هغه په مقابله کي ساه لرونکي مذکر وي که څه هم د تانيث علامه پکښې وي يا نه وي لکه : اِمْرَأَةٌ . چي په مقابله کي يې رَجُلٌ دی. او اَتَانٌ (خره) چي په مقابله کي يې حِمَارٌ (خر) دی.

مؤنث لفظي هغه دی چي په مقابله کي يې ساه لرونکی مذکر نه وي لکه ظُلْمَةٌ. عَيْنٌ چي تصغير يې عُيَيْنَةٌ دی .

فصل: واحد، تثنیه او جمع

اسم د شمیر په اعتبار پر دري ډوله دی:

۱. واحد.

۲. تثنیه.

۳. جمع.

واحد: هغه اسم دی چې پر یوه دلالت کوي لکه: رَجُلٌ، یو سړی، اِمْرَأَةٌ، یوه ښځه.

تثنیه: هغه اسم دی چې پر دوو دلالت کوي او تثنیه د واحد د صیغې په آخر کې د نون مکسور او نون څخه مخکې یاء ماقبل مفتوح یا الف ماقبل مفتوح په زیاتوب سره جوړیږي لکه: رَجُلَانِ. رَجُلَيْنِ.

جمع: هغه اسم دی چې د دوو څخه په زیاتو باندې دلالت کوي، د جمع صیغه د واحد په صیغه کې په لږ بدلون سره جوړیږي، دغه بدلون به یا لفظي وي لکه رِجَالٌ. مُسْلِمُوْنَ، او یا به تقدیري وي لکه فُلْكٌ پر وزن د قُفْلٌ. یوه کښتی. او فُلُكٌ پر وزن د اُسْدٌ کښتیانې.

د جمع قسمونه

د لفظ په اعتبار د جمع دوه قسمونه دي: جمع مکسر او جمع سالم.

جمع مکسر: هغه جمع ده چې په هغه کې د واحد صیغه سلامته پاته نه سي لکه رِجَالٌ. چې د واحد صیغه یې رَجُلٌ، سلامت نه سو. بلکه د هغه د حروفو ترتیب په منځ کې د الف په راتلو سره مات سو، دغه جمعي ته جمع تکسیر هم وایي.

جمع سالم: هغه جمع ده چې د واحد صیغه یې سلامته وي . د جمع سالم دوه قسمونه دي :

۱: جمع مذکر سالم: هغه جمع ده چې په هغه کې واو ماقبل مضموم او نون مفتوح وي لکه مُسْلِمُوْنَ . یا یاء ماقبل مکسور او نون مفتوح وي لکه : مُسْلِمِیْنَ.

۲: جمع مؤنث سالم: هغه جمع ده چې په آخر کې یې الف او تاء وي لکه مُسْلِمَاتٌ.

د معنی په اعتبار د جمع دوه قسمونه دي: ۱: جمع قلت. ۲: جمع کثرت

جمع قلت: هغه جمع ده چې د لسو څخه پر کم ویل کیږي . د جمع قلت څلور وزنونه دي :

اَفْعُلٌ. لکه: اَکْلُبٌ د کَلْبٌ جمع .

اَفْعَالٌ ، لکه: اَقْوَالٌ د قَوْلٌ جمع .

اَفْعِلَةٌ. لکه اَطْعِمَةٌ . د طَعَامٌ جمع .

فِعْلَةٌ . لکه غِلْمَةٌ . د غُلَامٌ جمع .

او جمع سالم بیله الف او لامه په جمع قلت کې داخل ده لکه : عَاقِلُوْنَ، عَاقِلَاتٌ.

جمع کثرت : هغه ده چې پر لسو او یا تر لسو زیاتو باندې ویل کیږي. د دغه جمعي وزنونه د جمع قلت د ذکر سوو وزنو څخه علاوه دي. په هغو کې لس مشهور وزنونه لیکل کیږي :

وزن	واحد	جمع	وزن	واحد	جمع
فِعَالٌ	عَبْدٌ	عِبَادٌ	فُعَّالٌ	خَادِمٌ	خُدَّامٌ
فُعَلَاءُ	عَالِمٌ	عُلَمَآءُ	فُعْلى	مَرِيْضٌ	مَرْضَى
اَفْعِلَاءُ	نَبِيٌّ	اَنْبِيَآءُ	فَعَلَةٌ	طَالِبٌ	طَلَبَةٌ
فُعُلٌ	رَسُوْلٌ	رُسُلٌ	فِعَلٌ	فِرْقَةٌ	فِرَقٌ
فُعُوْلٌ	نَجْمٌ	نُجُوْمٌ	فِعْلَانٌ	غُلَامٌ	غِلْمَانٌ

فائده: د رباعي او خماسي اسمو جمعي زيات وختونه د منتهى الجموع پر وزن راځي او د هغه مشهورو وزنونه درې دي :

مَفَاعِلٌ . لکه : د مَسْجِدٌ څخه مَسَاجِدٌ .

مَفَاعِيْلٌ. لکه د مِفْتَاحٌ څخه مَفَاتِيْحٌ، .

فَعَائِلٌ. لکه: د رِسَالَةٌ څخه رَسَائِلُ.

منتهى الجموع: هغه جمع ده چې د جمع د الف وروسته يې دوه حرفه وي لکه مَسَاجِدُ . يا يو حرف مشدد وي لکه : دَوَابُّ . يا درې حرفه وي او منځنی حرف ساکن وي لکه مَفَاتِيْحُ.

١ - **فائده:** ځيني جمع د واحد څخه ماسوا په بل لفظ کې راځي لکه د اِمْرَاَةٌ جمع نِسَاءٌ. او د : ذُوْ. جمع اُوْلُوْا.

١ - **فائده:** کله واحد اسم د جمع معنی هم ورکوي لکه : قَوْمٌ . رَهْطٌ.

رَكْبٌ . دغه اسمو ته اسم جمع وايي .

٢ - **فائده**: د ځينو الفاظو جمع د قياس خلاف راځي لکه د اُمٌّ جمع اُمَّهَاتٌ . د فَمٌ جمع اَفْوَاهٌ . د مَاءٌ جمع مِيَاهٌ . د اِنْسَانٌ جمع اُنَاسٌ . د شَاةٌ جمع شِيَاهٌ.

فصل: منصر او غير منصرف

د معرب اسم دوه ډولونه دي :

١. منصرف .

٢. غير منصرف .

منصرف: هغه اسم ته وايي چې په هغه کې د منع صرف اسباب نه وي او پر هغه دري حرکتونه او تنوين راځي لکه: زَيْدٌ.

غيرمنصرف: هغه اسم دی چې د منع صرف د اسبابو څخه دوه سببه پکښې وي. يا يو داسي سبب وي چې د دوو سببو پرځای وي او پر هغه تنوين او کسره نه راځي .

د منع صرف اسباب نهه دي :

١: عدل. ٢: وصف. ٣: تانيث. ۴: معرفه. ۵: عجمه. ۶: جمع. ٧: ترکيب، ٨: وزن فعل. ٩: الف او نون زائدتان . چې مجموعه يې په لاندي دوو شعرو کې بيان سوي ده :

عَدْلٌ وَّوَصْفٌ وَّتَانِيْثٌ وَّمَعْرِفَةٌ ... وَعُجْمَةٌ ثُمَّ جَمْعٌ ثُمَّ تَرْكِيْبٌ

وَالنُّوْنُ زَائِدَةٌ مِّنْ قَبْلِهَا اَلِفٌ ... وَوَزْنُ فِعْلٍ وَهٰذَا الْقَوْلُ تَقْرِيْبٌ

د هريوه مثال په لاندي ډول دی :

په عُمَرُ کي دوه سببه دي. عدل او معرفه.

په ثَلَاثَ کي دوه سببه دي. وصل او عدل.

په طَلْحَةُ کي کي دوه سببه دي. تانيث او معرفه.

په زَيْنَبُ کي کي دوه سببه دي. معرفه او تانيث.

په اِبْرَاهِيْمُ کي کي دوه سببه دي عجمه او معرفه.

په مَسَاجِدُ کي کي دوه سببه دي. جمع او منتهی الجموع.

په بَعْلَبَكَّ کي کي دوه سببه دي. ترکيب او معرفه.

په اَحْمَدُ کي کي دوه سببه دي. وزن فعل او معرفه.

په سَكْرَانُ کي کي دوه سببه دي. الف او نون زائدتان او وصف.

۱ – **فائده**: د نحويانو په اصطلاح کي د يو اسم د خپلي اصلي صيغي څخه وتل او بلي صيغي تللو ته عدل وايي. عدل پر دوه ډوله دی :

۱: عدل تحقيقي، ۲: عدل تقديري.

۱: عدل تحقيقي هغه دی چي هيڅ اصل يې نه وي لکه ثُلٰثُ. چي معنی يې ده: دري دري. له دې څخه معلومه سوه چي د دغه لفظ اصل ثَلَثَةٌ و ثَلَثَةٌ دی.

۲: عدل تقديري: هغه دی چي د هغه اصل نه وي بلکه منل سوی وي لکه عمر چي په عربو کي غير منصرف استعماليږي. مګر په دغه لفظ کي د غير منصرف کېدو يوازي يو سبب. معرفه دی. ځکه د استعمال

په لحاظ د دغه لفظ اصل عامر و منل سوی دی .

۲- **فائده:** عجمه هغه اسم دی چې د عربي ژبې څخه ماسوا په بله ژبه کې علم وي او تر درو حروفو زیات وي لکه ابراهیم. یا درې حرفیز وي او منځنی حرف یې متحرک وي لکه شتر . (د یوې قلعې نوم دی) .

۳- **فائده:** که چیرې الف او نون زائدتان د اسم په آخر کې وي نو شرط دادی چې هغه اسم به علم وي لکه عثمان، عمران او سلمان. نو سعدان غیر منصرف نه دی ځکه هغه علم نه دی بلکه ځنګلی وانبه ته وایي .

او که چیرې الف او نون زائدتان د صفت په آخر کې وي نو شرط دادی چې د هغه مؤنث د فعلانة پر وزن نه وي لکه سکران. غیر منصرف دی ځکه د هغه مؤنث سکرانة نه دی . او ندمان غیر منصرف نه دی ځکه د هغه مؤنث ندمانة دی .

۴- **فائده:** د وزن فعل څخه دا مطلب دی چې اسم د فعل پر وزن وي لکه احمد د افعل پر وزن دی .

۵- **فائده:** هر غیر منصرف چې الف لام ورباندې راسي یا اسم ته مضاف وي نو د جر په حالت کې کسره ورکول کیږي لکه صَلَّیْتُ فِی مَسَاجِدِهِمْ وَ ذَهَبْتُ اِلَی الْمَقَابِرِ .

فصل: مرفوعات

مرفوعات اته دي، ۱: فاعل. ۲: مفعول مالم يسم فاعله. ۳: مبتداء. ۴: خبر. ۵: د ان او داسي نورو خبر. ۶: د ما او لا اسم. ۷: د كان او داسي نورو اسم. ۸: د لام نفي جنس خبر.

۱: **فاعل:** هغه اسم دی چي هغه ته د فعل نسبت داسي كيږي چي هغه فعل د دغه اسم سره قائم دی لكه: قَامَ زَيْدٌ. ضَرَبَ عَمْرٌو.

فاعل پر دوه ډوله دی. ۱: ظاهر، ۲: مضمر. لكه په قَامَ زَيْدٌ كي اسم فاعل ظاهر دی او په ضَرَبْتُ كي فاعل ضمير دی.

ضمير هم پر دوه ډوله دی. ۱: ضمير بارز (ظاهر) لكه ضَرَبْتَ. ضَرَبْتُمَا. ضَرَبْتُمْ. ضَرَبْتِ. ضَرَبْتُمَا. ضَرَبْتُنَّ. ضَرَبْتُ. ضَرَبْنَا. ضَرَبَا. ضَرَبُوْا. ضَرَبَتْ. ضَرَبَتَا. ضَرَبْنَ.

۲: ضمير مستتر (پټ) لكه په ضَرَبَ كي هو، او په كي ضَرَبَتْ هي، همدارنګه په يَضْرِبُ واحد مذكر غائب كي هو، په تَضْرِبُ واحد مؤنث غائب كي هي، په تَضْرِبُ واحد مذكر حاضر كي انت، او په اَضْرِبُ واحد متكلم كي انا، په نَضْرِبُ تثنيه و جمع متكلم كي نحن مستتر (پټ) دي.

د تثنيې په څلورو صيغو يَضْرِبَانِ. تَضْرِبَانِ او داسي نورو كي الف، او په يَضْرِبُوْنَ وَ تَضْرِبُوْنَ. كي واو، او په يَضْرِبْنَ. تَضْرِبْنَ. كي نون،

او په تَضْرِبِيْنَ ،کي ياء پټه ده. ښه فکر وکړئ.

فائده: کله چې د فعل فاعل ظاهر وي. مؤنث حقيقي وي. د فعل او فاعل په منځ کي فاصله هم نه وي، يا فاعل د مؤنث ضمير وي نو په دواړو صورتو کي دفعل مؤنث راوړل ضروري دي لکه: قَامَتْ هِنْدٌ و هِنْدٌ قَامَتْ.

ترکيب: د هِنْدٌ قَامَتْ ترکيب داسي کيږي: هند مبتداء. قامت فعل. په هغه کي ضمير هي پټ. هغه د اسم فاعل. فعل د خپل فاعل سره جمله فعليه خبريه خبر سو، مبتدا او خبر جمله اسميه خبريه سوه.

او کله چې فاعل ظاهر مؤنث حقيقي وي او د فعل او فاعل په منځ کي فاصله وي يا فاعل ظاهر مؤنث غير حقيقي وي. يا فاعل ظاهر جمع مکسر وي نو په دغه درو صورتو کي فعل هم مؤنث راتلای سي او هم مذکر لکه قَرَأَ الْيَوْمُ هِنْدٌ. او قَرَأَتِ الْيَوْمَ هِنْدٌ۔ طَلَعَ الشَّمْسُ وَ طَلَعَتِ الشَّمْسُ۔ قَالَ الرِّجَالُ وَ قَالَتِ الرِّجَالُ.

فائده: کله چې د فعل فاعل ظاهر وي نو فعل همېشه د واحد صيغه راوړل کيږي لکه ضَرَبَ الرَّجُلُ، ضَرَبَ الرَّجُلَانِ. ضَرَبَ الرِّجَالُ.

او کله چې فاعل ظاهر نه وي نو فاعل د واحد لپاره فعل وحد او د تثنيه فاعل لپاره فعل تثنيه او جمع فاعل لپاره فعل هم جمع راوړل کيږي لکه: اَلْخَادِمُ ذَهَبَ۔ اَلْخَادِمَانِ ذَهَبَا۔ اَلْخَادِمُوْنَ ذَهَبُوْا.

مګر کله چې فاعل د جمع مکسر ضمير وي نو فعل واحد مؤنث يا جمع

مذکر دواړه راتلای سي لکه: اَلرِّجَالُ قَامُوْا۔ اَلرِّجَالُ قَامَتْ.

۲: **مفعول مالم یسم فاعله:** هغه مفعول دی چي هغه ته د فعل مجهول نسبت وي او فاعل حذف کړل سي او دهغه پر ځای مفعول ذکر کړي لکه: ضَرَبَ زَيْدٌ ،د فعل د مذکر، مؤنث ، واحد، تثنیه او جمع په راوړلو کي د فاعل په ډول دی، لکه: ضُرِبَتْ هِنْدٌ وَهِنْدٌ ضُرِبَتْ، او ضُرِبَ الْيَوْمَ هِنْدٌ وَضُرِبَتِ الْيَوْمَ هِنْدٌ ، او رُاِیَ الشَّمْسُ وَرُاِیَتِ الشَّمْسُ ، او ضُرِبَ الرِّجَالُ وَضُرِبَتِ الرِّجَالُ، او ضُرِبَ الرَّجُلُ ضُرِبَ الرَّجُلَانِ ضُرِبَ الرِّجَالُ، او اَلْخَادِمُ طُلِبَ۔ اَلْخَادِمَانِ طُلِبَا. اَلْخَادِمُوْنَ طُلِبُوْا.

اَلرِّجَالُ ضُرِبُوْا۔ اَلرِّجَالُ ضُرِبَتْ.

فعل مجهول ته مالم یسم فاعله وایي، یعني داسي فعل چي د فاعل نوم یې معلوم نه وي.

۴،۳: **مبتدا او خبر** : دغه دواړه د اسم عامل لفظي څخه خالي وي. مبتداء ته مسند الیه او خبر ته مسند وایي، په دوئ کي عامل معنوي وي لکه زَيْدٌ عَالِمٌ .

مبتداء زیات وختونه معرفه وي او کله نکره هم وي په شرط ددې چي په هغه کي یو څه تخصیص وسي چي د نورو کتابو څخه به معلومه سي.

خبر زیات وختونه نکره وي ، مثالونه یې دادي: زَيْدٌ اَبُوْهُ عَالِمٌ. اَللّٰهُ يَعْصِمُكَ. اَلْعَالِمُ اِنْ جَاءَكُمْ فَاَكْرِمُوْهُ. اَللّٰهُ مَعَكُمْ.

کله خبر پر مبتداء مخکي وي لکه : فِی الدَّارِ زَيْدٌ.

۵: د اِنَّ او داسي نورو خبر :

اِنَّ. اَنَّ. كَاَنَّ. لَيْتَ. لٰكِنَّ. لَعَلَّ

اسم ته نصب ورکوي او خبر ته رفع . لکه: اِنَّ زَيْدًا قَائِمٌ. وَكَانَ عَمْرًا اَسَدٌ

۶: د مَاوَلَا اسم:

د مَا وَلَا عمل د اِنَّ او اَنَّ خلاف دی. اسم ته رفع ورکوي او خبر ته نصب . لکه : مَازَيْدٌ قَائِمًا. لَارَجُلٌ اَفْضَلَ مِنْكَ.

۷: د كَانَ او نورو اسم :

كَانَ. صَارَ. اَصْبَحَ. اَمْسَى وَاَضْحَى ظَلَّ بَاتَ مَابَرِحَ مَادَامَ مَاانْفَكَّ لَيْسَ. مَافَتِئَ

اسم ته رفع او خبر ته نصب ورکوي لکه : كَانَ زَيْدٌ قَائِمًا، صَارَ الْفَقِيْرُ غَنِيًّا.

۸: د لا م نفي جنس خبر، لکه : لَارَجُلٌ قَائِمٌ.

فصل: منصوبات

منصوبات دوولس دي، ۱: مفعول به، ۲: مفعول مطلق. ۳: مفعول له. ۴: مفعول معه، ۵: مفعول فيه، ۶: حال، ۷: تميز. ۸: د ان او نورو اسم. ۹: د ما و لا خبر، ۱۰: د لاء نفي جنس اسم، ۱۱: د كان خبر. ۱۲: مستثنى .

۱: **مفعول به**: هغه اسم دی چي پر هغه باندي د فاعل فعل واقع وي لکه: اَكَلَ زَيْدٌ طَعَامًا. شَرِبَ خَالِدٌ مَاءً .

ترکيب يې دادی: اكل فعل، زيد فاعل، طعاما مفعول به، فعل د خپل فاعل او مفعول به سره جمله فعليه خبريه سوه .

فائده: په ځينو ځايو کي د مفعول به فعل د يوې قرينې په وجه حذف کيږي لکه کوربه چې د خپل مېلمه د ښه راغلاست او ډاډه ورکولو لپاره وايي: اَهْلًا وَ سَهْلًا ، يعني اَتَيْتَ اَهْلًا وَطِئْتَ سَهْلًا .ته خپلو خلګو ته راغلې او ته ښه ځای ته راغلې پر تا باندې هيڅ تکليف نسته. دلته د اتيت او وطيت لفظ حذف دی. او څرنګه چې د بېرولو په وخت کي ويل کيږي: اِيَّاکَ وَالْاَسَدَ. يعني اتَّقِ نَفْسَکَ مِنَ الْاَسَدِ ، خپل ځان د زمرې څخه وژغوره. دلته د اتق فعل محذوف دی. يو چا ته د ښغ کولو پر وخت هم فعل حذف کيږي لکه يَاغُلَامَ زَيْدٍ. يعني اَدْعُوْ غُلَامَ زَيْدٍ .زه د زيد غلام ته ښغ کوم. دلته د ادعو لفظ محذوف دی . يا حرف نداء دی او غلام زيد منادی دی.

پاملرنه! که چيرې منادی مضاف وي نو منصوب وي لکه يَاغُلَامَ زَيْدٍ . يا د مضاف مشابه وي لکه: يَاقَارِئًا کِتَابًا. اې د کتاب ويونکې .يا نکره غير معينه وي لکه يَارَجُلًا خُذْ بِيَدِی .

مفرد معرفه منادی د رفع پر حالت مبني وي لکه يَا زَيْدُ. او که منادی معرفه په الف لام وي نو د حرف نداء او منادی په منځ کي د ايها څخه فصل کول لازمي دي لکه يَا اَيُّهَا الرَّجُلُ.

په منادی کي ترخيم هم جائز دی يعني د تخفيف لپاره آخري حرف حذف کوي لکه په يَامَالِکُ کي يَامَالُ او په يَا مَنْصُوْرُ کي يَا مَنْصُ.

په منادی مرخم کي اصلي حرکت هم جائز دی او ضمه هم. ځکه يَا مَالِ

هم ویلای سو او یا یَامَالُ هم.

۲: **مفعول مطلق**: هغه مصدر دی چې د فعل وروسته واقع وي او هغه مصدر دذغه فعل وي لکه ضرباً په ضَرَبْتُ ضَرْبًا کي. او قِيَامًا په قُمْتُ قِيَامًا کي، د مفعول مطلق فعل د یوې قرینې په وجه حذف کیږي هم لکه راتلونکي ته چې ویل کیږي: خَيْرَمَقْدَمٍ یعني قَدِمْتَ قُدُوْمًا خَيْرَ مَقْدَمٍ، ته ښه راغلې.

۳: **مفعول له**: هغه اسم دی چې د هغه په سبب فعل واقع وي لکه قُمْتُ اِكْرَامًا لِزَيْدٍ وَضَرَبْتُهُ تَأْدِيْبًا.

ترکیب: ضربتُ فعل د فاعل سره. ه ضمیر مفعول به. تادیبا مفعول له. فعل د فاعل او دواړو مفعولو سره جمله فعلیه خبریه سوه.

۴: **مفعول معه**: هغه اسم دی چې د واو وروسته واقع وي او هغه واو د مع په معنی وي لکه جَاءَ زَيْدٌ وَالْكِتَابَ. راغلی زید مع (سره د) کتاب. جِئْتُ وَزَيْدًا، زه د زید سره راغلم.

ترکیب: جاء فعل، زید فاعل، واو په معنی د مع الکتاب معفول معه. فعل د خپل فاعل او مفعول معه سره جمله فعلیه سوه.

۵: **مفعول فيه**: هغه اسم دی چې په هغه کي فعل مذکوره واقع وي اړ دې ته ظرف وایي. ظرف پر دوه ډوله دی. ۱: ظرف زمان. ۲: ظرف مکان.

بیا د ظرف زمان دوه ډولونه دي، ۱: مبهم، ۲: محدود.

ظرف مبهم : هغه ی چې حد يې معين نه وي لکه دَهْرٌ. حِيْنٌ.

ظرف محدود : هغه دی چې حد يې معين وي لکه يَوْمٌ. لَيْلٌ. شَهْرٌ. سَنَةٌ.

د ظرف مکان هم دوه ډولونه دي . ۱: مبهم. لکه: جَلَسْتُ خَلْفَکَ وَ قُمْتُ اَمَامَکَ. د خلف او امام هيڅ حد معين نه دی ، د مځکې تر آخري برخې پورې مراد کېدای سي. ۲: محدود. لکه جَلَسْتُ فِي الدَّارِ وَصَلَّيْتُ فِي الْمَسْجِدِ.

فائده: په ظرف مکاني مبهم کې في مقدر وي او په ظرف مکاني محدود کې في ذکر سوې وي. يو شاعر دغه پنځه مفعوله په خپل شعر کې په ښه ډول بيان کړي دي :

حَمِدْتُ حَمْدًا حَامِدًا وَحَمِيْدًا رِعَايَةَ شُكْرِهِ دَهْرًا مَدِيْدًا

ژباړه: ما د حامد تعريف د حميد سره وکړ، د هغه د شکر په لحاظ ساتلو سره تر يوې اوږدې زمانې پورې .

ترکيب: حمدت فعل د فاعل سره. حمدا مفعول مطلق، حامدا مفعول به. واو په معنی د مع. حميدا مفعول مع. رعاية مضاف. شکر مضاف اليه . مضاف ه مضاف اليه. مضاف او مضاف اليه د رعاية مضاف اليه سوه. مضاف او مضاف اليه مفعول له. دهرا موصوف. مديدا صفت. موصوف او صفت مفعول فيه. فعل د فاعل او خپلو تولو مفعولو سره جمله فعليه سوه .

٦ - **حال:** هغه اسم دی چې د فاعل صورت بيان کړي. يعني دا څرګنده کړي چې کله د فاعل څخه دغه فعل صادر سوی دی نو هغه په کوم

شکل کي وو، ولاړ وو، ناست وو، سپور وو او که پر پښو وو. لکه: جَاءَ زَيْدٌ رَاكِبًا . راغلی زید په داسي حال کي چي سپور وو. په دغه کلمه کي راکبا حال دی د زید. یا د مفعول حالت او صورت څرګند کړي لکه: جِئْتُ زَيْدًا نَائِمًا. زه راغلم زید ته په داسي حال کي چي هغه بېده وو، یا د فاعل او مفعول دواړو حالت څرګند کړي لکه: كَلَّمْتُ زَيْدًا جَالِسَيْنِ . ما د زید سره خبري وکړې په داسي حال کي چي دواړه ناست وو.

فاعل او مفعول ته ذوالحال وایي او هغه زیات وختونه معرفه وي. او که ذوالحال نکره وي نو حال مقدم کیږي لکه: جَاءَنِي رَاكِبًا رَجُلٌ . او حال جمله هم وي لکه. جَاءَنِي زَيْدٌ وَهُوَ رَاكِبٌ. او لَقِيْتُ بَكْرًا وَهُوَ جَالِسٌ . او کله ذوالحال معنوي وي لکه: زَيْدٌ اَكَلَ جَالِسٌ . په دغه جمله کي هو ذوالحال دی چي په اکل کي پټ دي.

۱: ترکیب: جَاءَنِي زَيْدٌ رَاكِبًا . جاء فعل. زید ذوالحال. راکبا حال. حال او ذوالحال دواړه دجاء فاعل سوه. فعل د خپل فاعل سره جمله فعلیه خبریه سوه.

۲: جِئْتُ عَمْرًا نَائِمًا . جئت فعل بافاعل عمروا ذوالحال. نائما حال. حال او ذوالحال دواړه مفعول به. فعل د خپل فاعل او مفعول به سره جمله فعلیه خبریه سوه.

۳: لَقِيْتُ بَكْرًا وَهُوَ جَالِسٌ . لقیت فعل بافاعل بکرا ذوالحال. واو

حالیه. هو مبتدا، جالس خبر، مبتدا او خبر جمله اسمیه خبریه حال سو. حال او ذوالحال د لقیت مفعول به. فعل بافاعل او مفعول به جمله فعلیه خبریه سوه.

۴: زَيْدٌ اَكَلَ جَالِسًا . زید مبتدا. اکل فعل، په هغه کي ضمیر هو ذوالحال. جالسا حال. حال او ذوالحال فاعل سوه د اکل. فعل دخپل فاعل سره جمله فعلیه خبریه د مبتداء خبر سو. پاته ترکیب څرګند دی.

۷: **تمیز**: هغه اسم دی چې د حدودو پټو والی ختم کړي لکه: رَاَيْتُ اَحَدَعَشَرَ كَوْكَبًا . یا د وزن لکه: اِشْتَرَيْتُ رِطْلًا زَيْتًا. ما یو رطل د زیتون تیل رانیول. یا د پیمانې لکه: بِعْتُ قَفِيْزَيْنِ بُرًّا . ما دوه قفیزه غنم خرڅ کړه.

۱:ترکیب. رایت فعل. احد عشر ممیز. کوکبا تمیز. ممیز او تمیز مفعول به سو. پاته ترکیب څرګند دی.

۲: اشتریت فعل بافاعل رطلا ممیز. زیتا تمیز، ممیز او تمیز مفعول به سوه.

۳: بعت فعل بافاعل . قفیزین ممیز. برا تمیز. ممیز او تمیز مفعول به سوه.

۸: **دإِنَّ او نورو اسم**. لکه: اِنَّ زَيْدًا قَائِمٌ .

۹: **دما ولا خبر**. لکه: لَارَجُلٌ ظَرِيْفًا .

۱۰: **دلام نفي جنس اسم**. لکه: لَارَجُلَ ظَرِيْفٌ.

۱۱: د **كَانَ او نورو خبر**. لكه: كَانَ زَيْدٌ قَائِمًا .

۱۲: **مستثنى**: هغه اسم دى چې چې د حروف استثناء وروسته واقع وي او د هغه څخه دا څرګنده وي چې د کوم شي نسبت مخکې شي ته کيږي د هغه څخه مستثنى وتلى دى .

حروف استثناء اته دي: (۱): اِلَّا (۲): غَيْرَ (۳): سِوَى (۴): حَاشَا (۵): خَلَا (٦): عَدَا (۷): مَاخَلَا (۸): مَاعَدَا .

د دغه حروفو څخه مخکې چې کوم حرف راسي هغه ته مستثنى منه وايي لكه: جَاءَنِي الْقَوْمُ اِلَّا زَيْدًا . ما ته قوم راغلى مګر نه زيد .

په دغه مثال کې د راتګ نسبت قوم ته کيږي مګر د الا لفظ زيد د دغه نسبت څخه وايستى، نو قوم مستثنى منه سو او زيد مستثنى .

د مستثنى دوه ډولونه دي. ۱: متصل. ۲: منفصل.

مستثنى متصل هغه دى چې د استثناء څخه مخکې په مستثنى منه کې داخل وي او بيا د حرف استثناء په راوړلو سره وايستل سي لكه: جَاءَالْقَوْمُ اِلَّا زَيْدًا .نو په دغه جمله کې زيد د استثناء څخه مخکې په قوم کې داخل وو مګر د راتګ د حكم څخه د حرف استثناء په ذريعه وايستل سو .

مستثنى منقطع هغه دى چې نه د استثناء څخه مخکې په مستثنى منه کې داخل وي او نه وروسته تر استثناء. لكه: سَجَدَالْمَلٰئِكَةُ اِلَّا اِبْلِيْسَ . ملائكو سجده وكړه مګر نه شيطان، نو ابليس نه د استثناء څخه مخکې په ملائكو کې داخل وو او نه وروسته (بلكه پيرى وو) .

دا مستثنی منقطع سوه.

ترکیب: جَاءَالْقَوْمُ اِلَّا زَیْدًا . جاء فعل. القوم مستثنی منه. الا حرف استثناء. زیدا مستثنی. مستثنی منه او مستثنی فاعل سوه. جاء فعل د خپل فاعل سره جمله فعلیه خبریه سوه.

بیا په یو بل اعتبار د مستثنی دوه ډولونه دي. ۱: مفرغ. ۲: غیر مفرغ.

مفرغ :هغه دی چي مستثنی منه یې مذکور نه وي لکه: جَاءَنِی اِلَّا زَیْدٌ .

غیرمفرغ: هغه ده چي په هغه کي مستثنی منه مذکور وي لکه: جَاءَنِی الْقَوْمُ اِلَّازَیْدًا .

په کوم کلام کي چي استثناء وي د هغه هم دوه ډولونه دي. ۱: موجب.
۲: غیر موجب.

موجب: هغه ده چي په هغه کي نفي، نهي او استفهام نه وي .

غیر موجب: هغه ده چي په هغه کي نفي، نهي او استفهام موجود وي .

د مستثنی د اعراب ډولونه

شمېره	قاعده	مثال
۱	که متصل مستثنی د الا وروسته په کلام موجب کي واقع وي نو مستثنی همېشه منصوب وي.	جَاءَنِی الْقَوْمُ اِلَّازَیْدًا
۲	که په کلام غیر موجب کي مستثنی پر مستثنی منه مقدم کړي نو منصوب یا کېږي.	مَاجَاءَنِی اِلَّازَیْدًا اَحَدٌ

۳	مستثنی منقطع همیشه منصوب وي.	سَجَدَ الْمَلٰئِكَةُ اِلَّا اِبْلِيْسَ
۴	د خلا او عدا وروسته مستثنی د اکثرو عالمانو په نزد منصوب وي.	جَاءَنِي الْقَوْمُ خَلَا زَيْدًا
۵	د ماعدا وروسته مستثنی همیشه منصوب وي.	جَاءَنِي الْقَوْمُ مَاعَدَا زَيْدًا
٦ الف	کومه مستثنی چي د الا وروسته په غیرموجب کلام کي واقع وي او د هغه مستثنی منه هم مذکور وي نو په هغه کي دوه صورتونه جائز دي. یو دا چي په د استثناء په توګه منصوب وي	مَاجَاءَنِي اَحَدٌ اِلَّا زَيْدًا
٦ ب	دوهم دا چي د خپل ماقبل بدل وي یعني کوم اعراب چي د الا د مخکي اسم وي هغه د الا د وروسته هم وي.	مَاجَاءَنِي اَحَدٌ اِلَّا زَيْدٌ
۷	که مستثنی مفرغ وي او په کلام غیر موجب کي واقع وي نو د الا د مستثنی اعراب د عامل مطابق وي.	مَاجَاءَنِي اِلَّا زَيْدٌ مَارَاَيْتُ اِلَّا زَيْدًا مَامَرَرْتُ اِلَّا بِزَيْدٍ
۸	که مستثنی د غیر، سوی، سواء، حاشا وروسته واقع وي نو مستثنی مجرور ویل کیږي.	جَاءَنِي الْقَوْمُ غَيْرَ زَيْدٍ وَسِوَى زَيْدٍ. وَسِوَاءَ زَيْدٍ وَحَاشَا زَيْدٍ.

د (غیر) لفظ اعراب

دا خو معلومه سوه چي د غیر وروسته مستثنی مجرور وي. اوس دا ښودل کیږي چي د غیر لفظ اعراب په ټولو ذکر سوو صورتو کي

داسي وي لکه د ذکر سوي مستثنی . لکه چي د لاندي نقشې څخه به معلوم سي :

مثال	د قاعدې وضاحت
جَاءَنِي الْقَوْمُ غَيْرَزَيْدٍ.	دا د مستثنی متصل مثال دی.
سَجَدَ الْمَلٰئِكَةُ غَيْرَ اِبْلِيْسَ.	دا د مستثنی منقطع مثال دی.
مَاجَاءَنِي غَيْرَزَيْدٍ الْقَوْمُ.	غیرموجب. کلام دی. مستثنی مقدم دی.
مَاجَاءَنِي اَحَدٌ غَيْرَزَيْدٍ وَغَيْرَزَيْدٍ.	په دغه کي دوه صورتونه دي. استثناء او بدل.
مَاجَاءَنِي غَيْرُ زَيْدٍ.	په دغه درو مثالو کي د غیر اعراب د عامل مطابق دی.
مَارَاَيْتُ غَيْرَزَيْدٍ.	
مَامَرَرْتُ بِغَيْرِزَيْدٍ.	

فائده: د غیر لفظ اصل وضع د صفت لپاره ده مګر کله د استثناء لپاره هم راځي. همدارنګه الا د استثناء لپاره دی او کله د صفت لپاره هم راځي لکه د الله ﷻ فرمان: لَوْكَانَ فِيْهِمَا اٰلِهَةٌ اِلَّا اللّٰهُ لَفَسَدَتَا. او همدارنګه: لَااِلٰهَ اِلَّااللّٰهُ اَیْ غَيْرَاللّٰهِ.

فصل: مجرورات

کوم اسم چي مجرور (زېر لرونکی) وي هغه دوه دي. یو مضاف الیه لکه: غُلَامُ زَيْدٍ ، او دوهم هغه چي حرف جر ورباندي داخل وي لکه:

بِزَيْدٍ.

۱ - **فائده:** پر مضاف الف لام او تنوين نه راځي او د تثنيه او جمع نون په اضافت کي ايسته کيږي لکه: غُلَامَا زَيْدٍ. فَرَسَا عَمْرٍو. مُسْلِمُو مِصرَ. طَالِبُو عِلْمٍ.

() - **فائده:** د مضاف اليه په معنى کي د: د. زما. زمونږ. خپل او خپله الفاظ راځي لکه: غُلَامُ زَيْدٍ. د زيد غلام. غُلَامِي حَاضِرٌ. زما غلام حاضر دی. ضَرَبْتُ غُلَامِي. ما خپل غلام وواهه.

فصل

د اسماء متمکن د اعراب ډولونه

د اعراب د اقسامو شمېر	د اسماء متمکن شمېر	د اسماء متمکن اقسام	د رفع. نصب او جر حالت	مثال
۱	۱	اسم مفرد منصرف صحيح لکه: زَيْدٌ	د رفع په حالت کي ضمه.	جَاءَنِي زَيْدٌ هَذَا دَلْوٌ هُمْ رِجَالٌ.
۱	۲ ۳	اسم مفرد قائم مقام صحيح لکه: دَلْوٌ. جمع مکسر منصرف لکه:	د نصب په حالت کي فتحه. د جر په حالت کي کسره.	رَأَيْتُ زَيْدًا رَأَيْتُ دَلْوًا. رَأَيْتُ رِجَالًا مَرَرْتُ بِزَيْدٍ جِئْتُ بِدَلْوٍ.

		رِجَالٌ		قُلْتُ لِرِجَالٍ.
۲	۴	جمع مؤنث سالم لکه: مُسْلِمَاتٌ	د رفع په حالت کي ضمه، د نصب او جر په حالت کي کسره	هُنَ مُسْلِمَاتٌ رَأَيْتُ مُسْلِمَاتٍ مَرَرْتُ بِمُسْلِمَاتٍ
۳	۵	غير منصرف	د رفع په حالت کي ضمه، د نصب او جر په حالت کي فتحه	جَاءَ عُمَرَ رَأَيْتُ عُمَرَ مَرَرْتُ بِعُمَرَ
۴	۶	اسماء سته مکبره چي د یاء متکلم څخه ماسوا بل اسم ته مضاف وي	د رفع په حالت کي واو، د نصب په حالت کي الف او د جر په حالت کي یاء	جَاءَ أَبُوْكَ رَأَيْتُ أَبَاكَ مَرَرْتُ بِأَبِيْكَ

فائده: اسماء سته مکبره. یعني هغه شپږ اسمونه چي د تصغیر په حالت کي نه وي. دادي: اب. اخ. حم. هن. فم. ذومال. که چیري یاء متکلم ته مضاف وي نو په درو سره حالتو کي اعراب یو ډول وي لکه: جاء ابي. رایت ابي. مررت بابي.

۵	۷	مثنی لکه رَجُلَانِ كِلَا چي ضمیر ته مضاف وي.		جَاءَ رَجُلَانِ جَاءَ كِلَاهُمَا جَاءَ اِثْنَانِ رَأَيْتُ رَجُلَيْنِ رَأَيْتُ كِلَيْهِمَا رَأَيْتُ اِثْنَيْنِ

	٩	اِثْنَانِ اِثْنَتَانِ		مَرَرْتُ بِرَجُلَيْنِ مَرَرْتُ بِكِلَيْهِمَا مَرَرْتُ بِاثْنَيْنِ
٦	١٠ ١١ ١٢	جمع مذكر سالم لكه: مُسْلِمُوْنَ اُوْلُو د عِشْرُوْنَ څخه تر تِسْعُوْنَ	د رفع په حالت کي واو ماقبل مضموم. د نصب او جر په حالت کي یاء ماقبل مکسور.	جَاءَ مُسْلِمُوْنَ جَاءَ اُوْلُو مَالٍ جَاءَ عِشْرُوْنَ رَجُلًا رَاَيْتُ مُسْلِمِيْنَ رَاَيْتُ اُوْلِي مَالٍ رَاَيْتُ عِشْرِيْنَ رَجُلًا مَرَرْتُ بِمُسْلِمِيْنَ مَرَرْتُ بِاُوْلِي مَالٍ مَرَرْتُ بِعِشْرِيْنَ رَجُلًا
٧	١٣ ١٤	اسم مقصور لکه: مُوْسٰى. د جمع مذکر سالم څخه ماسوا بل اسم چې یاء متکلم ته مضاف وي	په دروسره حالتو کي اعراب تقدیري وي.	جَاءَ مُوْسَى جَاءَ غُلَامِي رَاَيْتُ مُوْسَى رَاَيْتُ غُلَامِي مَرَرْتُ بِمُوْسَى مَرَرْتُ بِغُلَامِي

٨	١٥	اسم منقوص چې په آخر کې يې ياء ماقبل مکسور وي	د رفع په حالت کې واو، تقديري حالت	جَاءَ الْقَاضِى رَأَيْتُ الْقَاضِىَ مَرَرْتُ بِالْقَاضِىْ
٩	١٦	جمع مذکر سالم ياء متکلم ته مضاف.	د رفع په حالت کې واو، تقديري حالت، په نصب او جر کې ياء ماقبل مکسور.	هَؤُلَاءِ مُسْلِمِىَّ رَأَيْتُ مُسْلِمِىَّ مَرَرْتُ بِمُسْلِمِىَّ

فائده: مُسْلِمِىَّ په اصل کې مُسْلِمُوْنَ وه. کله چې ياء متکلم ته مضاف سو نو د جمع نون د اضافت په وجه ايسته سو او مُسْلِمُوْىَ پاته سو. اوس واو او ي جمع سَوه. واو ساکن وو ځکه د مرمي په قاعده واو په ياء بدل سو او ياء په ياء کې مدغم سوه نو مُسْلِمِىَّ سو. بيا يې د ميم ضمه د ياء د مناسبت په وجه په کسره بدله کړه نو مُسْلِمِىَّ سو.

فائده: د مُسْلِمِىَّ د نصب او جر حالت په اصل کې مُسْلِمِيْنَ دى. ځکه د جمع مذکر سالم د نصب او جر په حالت کې ياء ماقبل مکسور وي ځکه دلته د اضافت د نون ايسته کولو وروسته په ياء بدلولو ضرورت نه سته. ځکه د نصب او جر د حالت په وجه تر مخکې ياء موجود ده ځکه نو يوازې ياء په ياء کې مدغم کوو. نبه فکر وکړه.

فصل: توابع

څرګنده دي وي چې کله په جمله کې دوه اسمونه یو ځای جمع سي او د دوهم اسم اعراب د یوې وجهې د اول موافق وي نو اول اسم ته متبوع او دوهم ته تابع وایي.

نو تابع هغه دوهم اسم دی چې د خپل اول اسم د یوې جهې څخه په اعراب کې موافق وي، د تابع پنځه قسمونه دي، ۱: صفت، ۲: تاکید، ۳: بدل، ۴: عطف بحرف، ۵: عطف بیان.

صفت هغه تابع دی چې د متبوع بنه یا بد حالت ظاهر کړي لکه جَاءَنِي رَجُلٌ عَالِمٌ، په دغه مثال کې عالم د رجل علمي حالت څرګند کړی دی او یا د متبوع اړوند حالت ظاهر کړي لکه: جَاءَنِي رَجُلٌ عَالِمٌ اَبُوْهُ، په دغه جمله کې عالم د ابوه علمي حالت ظاهر کړی دی چې د رجل متبوع متعلق دی.

نو د صفت دوه ډولونه سوه، یو هغه چې د خپل متبوع حالت ظاهر کړي دوهم هغه چې د متبوع اړوند حالت ظاهر کړي.

د صفت اول ډول په لسو شیانو کې د متبوع موافق وي، ۱: تعریف، ۲: تنکیر، ۳: تذکیر، ۴: تانیث، ۵: افراد، ۶: تثنیه، ۷: جمع، ۸: رفع، ۹: نصب، ۱۰: جر. لکه: عِنْدِیْ رَجُلٌ عَالِمٌ. رَجُلَانِ عَالِمَانِ. رِجَالٌ عَالِمُوْنَ. اِمْرَاَةٌ عَالِمَةٌ. اِمْرَاَتَانِ عَالِمَتَانِ. نِسْوَةٌ عَالِمَاتٌ.

دوهم ډول په پنځو شیانو کې د متبوع موافق وي. ۱: تعریف، ۲: تنکیر، ۳: رفع، ۴: نصب، ۵: جر. لکه: جَاءَتْنِي اِمْرَاَةٌ عَالِمٌ اِبْنُهَا، په

دغه مثال کي د عالم او امراة اعراب یو دی مګر څرنګه چي د عالم څخه د ابنها حالت ظاهریږي ځکه عالم مذکر راوړل سو .

فائده: د نکره صفت په جمله خبریه هم کیدای سي او په هغه جمله کي د ضمیر راوړل ضروري وي چي نکره ته راګرځي، لکه جَاءَنِي رَجُلٌ اَبُوْهُ عَالِمٌ. .

۱- ترکیب: جَاءَنِي رَجُلٌ عَالِمٌ . جاء فعل، نون د وقایې، د متکلم یاء مفعول به، رجل موصوف، عالم صفت، موصوف او صفت فاعل سوه . فعل د خپل فاعل او مفعول به سره جمله فعلیه خبریه سوه .

۲- ترکیب: جَاءَتْنِي اِمْرَاَةٌ عَالِمٌ اِبْنُهَا. جاءت فعل. نون د وقایې، د متکلم یاء مفعول به. امراة موصوف، عالم اسم فاعل. ابن مضاف، ها مضاف الیه، مضاف او مضاف الیه فاعل د عالم. عالم د خپل فاعل سره صفت سو. موصوف او صفت فاعل سوه د جاءت. جاءت د خپل فعل ، فاعل او مفعول به سره جمله فعلیه خبریه سوه .

۳: ترکیب: جَاءَنِي رَجُلٌ اَبُوْهُ عَالِمٌ . جاء فعل، نون د وقایې، د متکلم یاء مفعول، رجل موصوف، ابو مضاف، ه مضاف الیه، مضاف او مضاف الیه مبتداء، عالم خبر، مبتدا او خبر جمله اسمیه خبریه صفت سو، موصوف او صفت فاعل سو د جاء، فعل د خپل فاعل او مفعول سره جمله فعلیه خبریه سوه .

ترکیب یې وکړئ :

رَاَیْتُ اِمْرَاَةً عَالِمَةً. مَرَرْتُ بِرَجُلٍ عَالِمَةٍ بِنْتُهُ. جَاءَنِي رَجُلٌ مَاتَ اَبُوْهُ.

اُخْرِجْنَا مِنْ هٰذِهِ الْقَرْيَةِ الظَّالِمِ اَهْلُهَا. اُسْكُنْ فِيْ تِلْكَ الدَّارِ الْمَفْتُوْحِ بَابُهَا

۲: تاکید: هغه تابع دی چې د متبوع نسبت شاملېدل نه ثابت کړي چې اوربدونکی ته هیڅ شک پاته نه سې. لکه جَاءَ زَيْدٌ زَيْدٌ .په دغه جمله کې دوهم زید تاکید کړی دی د اول زید په نسبت چې جاء ته کیږي ، نه یې ثابته کړه چې د زید په راتګ کې هیڅ شک نسته. او لکه: جَاءَ الْقَوْمُ كُلُّهُمْ . په دغه جمله کې کلهم تاکید دی . د قوم شاملېدل یې نه ثابت کړه چې ټول قوم راغلی هیڅ یو پاته نه سو.

د تاکید دوه ډولونه دي. ۱: لفظي. ۲: معنوي.

تاکید لفظي هغه دی چې په هغه کې لفظ تکرار راوړل سي لکه جاء زَيْدٌ زَيْدٌ

تاکید معنوي په اتو لفظو سره کیږي : نَفْسٌ. عَيْنٌ. كِلَا. كِلْتَا. كُلٌّ. اَجْمَعَ. اَكْتَعَ. اَبْصَعَ.

نَفْسٌ. عَيْنٌ: دغه دوه الفاظ د وحد، تثنیه او جمع د تاکید لپاره راځي په شرط دا دي چې صیغې او ضمیرونه بدل کړل سي لکه : جَاءَ زَيْدٌ نَفْسُهُ. جَاءَ زَيْدَانِ اَنْفُسُهُمَا. جَاءَ الزَّيْدُوْنَ اَنْفُسُهُمْ. •

د عَيْنٌ. مثال هم داسي وکنئ لکه . جَاءَ زَيْدٌ عَيْنُهُ الخ .

كِلَا د تثنیه مذکر او كِلْتَا. د تثنیه مؤنث د تاکید لپاره راځي لکه : جَاءَ الرَّجُلَانِ كِلَاهُمَا، جَاءَتِ الْمِرْاَتَانِ كِلْتَاهُمَا ،

كُلٌّ. اَجْمَعَ : دغه دواړه الفاظ د واحد او جمع د تاکید لپاره راځي لکه:

قَرَأْتُ الْكِتَابَ كُلَّهُ. جَاءَ الْقَوْمُ كُلُّهُمْ. اِشْتَرَيْتُ الْفَرَسَ اَجْمَعَهُ. جَاءَ النَّاسُ اَجْمَعُوْنَ،

اَجْمَعَ. اَكْتَعَ. اَبْصَعَ. د اجمع تابع وي. يعني بيله اجمع نه راځي او نه پر اجمع مقدم کيږي لکه: جَاءَ الْقَوْمُ كُلُّهُمْ اَجْمَعُوْنَ. اَكْتَعُوْنَ. اَبْتَعُوْنَ. اَبْصَعُوْنَ.

ترکيب: جاء فعل. القوم مؤکد. کل مضاف. هم مضاف اليه. مضاف او مضاف اليه تاکيد، اجمعون دوهم تاکيد، مؤکد د خپلو دواړو تاکيدو سره فاعل سو، پاته ترکيب څرګند دی.

ترکيب يې وکړئ

سَجَدَ الْمَلٰئِكَةُ كُلُّهُمْ اَجْمَعُوْنَ. رَاَيْتُ الْاَمِيْرَ نَفْسَهُ

۳: بدل: هغه تابع دی چې په نسبت سره خپله مقصود وي او متبوع مقصود نه وي، د بدل څلورڅولونه دي، ۱: بدل الکل. ۲: بدل البعض، ۳: بدل الاشتمال، ۴: بدل الغلط.

بدل الکل: هغه بدل دی چې د هغه او مبدل منه يو مطلب وي لکه: جَاءَنِي زَيْدٌ اَخُوْكَ. قَرَأْتُ الْكِتَابَ رَوْضَةُ الْاَدَبِ.

بدل البعض: هغه بدل دی چې د خپل بدل منه يوه برخه وي، لکه: ضَرَبَ زَيْدٌ رَاْسُهُ.

بدل الاشتمال: هغه بدل دی چې د مبدل منه سره يې تړاو وي لکه: سُلِبَ زَيْدٌ ثَوْبَهُ. سُرِقَ عَمْرٌو مَالُهُ.

بدل الغلط: هغه بدل دی چې د غلطۍ کولو وروسته ذکر کړل سي لکه: اِشْتَرَيْتُ فَرَسًا، حِمَارًا. ما آس رانیوی، نه خر. جَاءَنِي زَيْدٌ جَعْفَرٌ، ما ته زید راغلی، نه جعفر،

۴: عطف په حرف: هغه تابع دی چې د حرف عطف وروسته راسي او کوم نسبت چې متبوع ته وي هغه تابع ته وي. متبوع ته معطوف علیه او تابع ته معطوف وایي، لکه: جَاءَزَيْدٌ وَ عَمْرٌو ،نو څرنګه چې د جاء نسبت زید ته سوی دی همداسي د حرف عطف په واسطه عمرو ته دی.

۵: عطف بیان: هغه تابع دی چې صفت نه وي مګر د خپل متبوع په څرګنده ظاهر کړي، او هغه په دوو نومو کې یو مشهور نوم وي لکه: جَاءَ زَيْدٌ اَبُوْعَمْرٍو ، یعني زید راغلی چې په ابوعمرو مشهور دی. نو دلته ابوعمرو عطف بیان دی او: جَاءَ اَبُوْظَفَرٍ عَبْدُاللهِ . یعني ابوظفر راغلی چې د عبدالله په نامه مشهور دی دلته عبدالله عطف بیان دی.

۱- ترکیب: جَاءَنِي زَيْدٌ اَخُوْكَ . جاء فعل. ن د وقایه. د متکلم یاء مفعول به، زید مبدل منه. اخو مضاف. ک مضاف الیه. مضاف او مضاف الیه بدل، بدل او مبدل منه فاعل سوه د جاء. پاته ترکیب یې بنکاره دی.

۲- ترکیب: ضُرِبَ زَيْدٌ رَاْسُهُ . ضُرِب فعل مجهول. زید مبدل منه. راس مضاف، ه مضاف الیه. مضاف او مضاف الیه بدل سوه. بدل او مبدل منه مفعول مالم یسم فاعله سوه. پاته ترکیب یې بنکاره دی.

۳- ترکیب: اِشْتَرَیْتُ فَرَسًا حِمَارًا . اشتریت فعل او فاعل. فرسا مبدل منه. حمارا بدل، بدل او مبدل منه مفعول به. اشتریت فعل او فاعل د خپل مفعول به سره جمله فعلیه خبریه سوه .

۴- ترکیب: جَاءَ زَیْدٌ وَ عَمْرٌ . جاء فعل. زید معطوف علیه. واو حرف عطف. عمرو معطوف. معطوف او معطوف علیه فاعل سوه د جاء. جاء فعل د خپل فاعل سره جمله فعلیه خبریه سوه. پاته ترکیب ښکاره دی.

۵- ترکیب: جَاءَ زَیْدٌ اَبُوْعَمْرٍو . جاء فعل. زید متبوع. ابو مضاف. عمرو مضاف الیه. مضاف او مضاف الیه د عطف بیان تابع سوه. متبوع او تابع فاعل سوه د جا . پاته ترکیب یې ښکاره دی .

ترکیب یې وکړئ:

قَامَ عَمْرٌ وَ اَبُوْکَ .	قَطَعَ زَیْدٌ یَدُهُ.
سَرَقَ حَمِیْدٌ نِعَالَهُ.	بِعْتُ جَمَلًا فَرَسًا.
ذَهَبَ بَکْرٌ وَ خَالِدٌ.	جَاءَ اَبُوالظَّفْرِ عَبْدُاللّٰهِ.

فصل:

عوامل لفظي او معنوي

د اعراب عوامل پر دوه ډوله دي. ۱: لفظي. ۲: معنوي.

لفظي عامل هغه دی چې په ظاهر لفظو کې موجود وي لکه په عَلَی

الْاَرْضِ. کي علی د ارض لفظ مجرور کړی دی او په جَاءَ زَيْدٌ کي د جاء لفظ زيد مضموم کړی دی .

د لفظي عامل دريځ دولونه دي . ١: حروف، ٢: اسماء، ٣: افعال.

فصل:

حروف عامله په اسم کي

کوم حروف چي په اسم کي عمل کوي، پر اووه ډوله دي:

١: **حروف جر:** چي اسم ته زېر ورکوي او هغه اووه لس دي :

باوَتاؤکاف ولام واؤ مُنذومُذ خَلا رُبَّ. حَاشَا. مِنْ. عَدَا. فِيْ. عَنْ. حَتّٰى. اِلٰى

مثالونه :

مَرَرْتُ بِزَيْدٍ. تَاللّٰهِ لَاَفْعَلَنَّ كَذَا. زَيْدٌ كَالْاَسَدِ. اَلْحَمْدُلِلّٰهِ. وَاللّٰهِ لَاَفْعَلَنَّ كَذَا. مَارَاَيْتُهُ مُنْذُيَوْمِ الْجُمُعَةِ. مَاجَاءَنِي زَيْدٌ مُذْخَمْسَةِ اَيَّامٍ. جَاءَنِي الْقَوْمُ خَلَا زَيْدٍ. رُبَّ عَالِمٍ تَعْمَلُ بِعِلْمِهِ. جَاءَنِي الْقَوْمُ حَاشَا زَيْدٍ. جَاءَنِي الْقَوْمُ عَدَا زَيْدٍ. زَيْدٌ فِي الدَّارِ. سَاَلْتُهُ عَنْ اَمْرٍ. قَامَ زَيْدٌ عَلَى السَّطْحِ. اَكَلْتُ السَّمَكَةَ حَتّٰى رَاْسِهَا. سِرْتُ مِنَ الْهِنْدِ اِلَى الْمَدِيْنَةِ

٢: **حروف مشبه بفعل:** چي اسم ته نصب او خبر ته رفع ورکوي، او دا شپږ دي : اِنَّ، اَنَّ، كَاَنَّ، لَيْتَ، لٰكِنَّ، لَعَلَّ .

مثالونه :

اِنَّ زَيْدًا قَائِمٌ. بَلَغَنِي اَنَّ زَيْدًا مُنْطَلِقٌ. كَاَنَّ زَيْدًا اَسَدٌ. غَابَ زَيْدٌ وَلٰكِنَّ

بَكْرًا حَاضِرٌ. لَيْتَ زَيْدًا قَائِمٌ. لَعَلَّ السُّلْطَانَ يُكْرِمُنِي

۳: **ماولا:** چې په عمل کولو کې د ليس مشابه دي.

مثالونه:

مَازَيْدٌ قَائِمًا. لَارَجُلٌ ظَرِيْفًا.

۴: **لام نفي جنس:** د دغه لام اسم اکثره مضاف منصوب وي او خبر مرفوع لکه: لَاغُلَامَ رَجُلٍ ظَرِيْفٌ فِي الدَّارِ.

او که وروسته د لام معرفه وي نو د دوهم معرفه وروسته د لا دوهم وار راوړل ضروري دي او لا به هيڅ عمل نه کوي. معرفه به د مبتداء په حيثيت مرفوع وي لکه:

لَازَيْدٌ عِنْدِی وَلَاعَمْرٌو لَاخَالِدٌ هٰهُنَا وَلَاسَعِيْدٌ.

په دې باندې داسې پوه سئ چې کله د دوو معرفوو يو ځای نه کېدل وښودل سي نو د هغه ترکيب سره ووايا ست چې لا دوهم وار د هر معرفه په سر کې راوړې او معرفه په رفع سره ووايي او که د دوو نکره نه کېدل ظاهر کړي نو دواړه پنځه ډوله ويلای سي:

(۱): لَارَجُلَ فِي الدَّارِ وَلَا اِمْرَأَةَ.

(۲): لَارَجُلَ فِي الدَّارِ وَلَا اِمْرَأَةٌ.

(۳): لَارَجُلَ فِي الدَّارِ وَلَا اِمْرَأَةَ.

(۴): لَارَجُلَ فِي الدَّارِ وَلَا اِمْرَأَةٌ.

(۵): لَارَجُلَ فِي الدَّارِ وَلَا اِمْرَأَةَ.

٥: **حرف نداء:** چې منادی مضاف ته نصب ورکوي، او دا پنځه دي:

(١): يَا (٢): اَيَا (٣): هَيَا (٤): اَیْ (٥): اَ

لکه: يَا عَبْدَاللهِ، اَی او همزه د نژدې لپاره. اَيَا او هَيَا د لیرې لپاره او يَا عام استعمالیږي.

٦: **واو په معنی د مَعَ:** لکه: اِسْتَوَی الْمَاءُ وَالْخَشَبَةُ.

٧: **اِلّا حرف استثناء:** لکه جَاءَ الْقَوْمُ اِلَّا زَيْدًا.

فصل:

حروف عامله په فعل مضارع کې

په فعل مضارع کې چې کوم حروف عمل کوي هغه پر دوه ډوله دي. ١: ناصب، ٢: جازم.

حروف ناصبه دادي:

اَنْ. لَنْ. كَيْ. اِذَنْ

مثالونه:

١: اَنْ. لکه: اُرِيْدُ اَنْ تَقُوْمَ، اَنْ د فعل سره د مصدر په معنی وي يعني: اُرِيْدُ قِيَامَكَ. ځکه دغه ته اَن مصدریه هم وایي.

٢: لَنْ، لکه: لَنْ يَذْهَبَ عَمْرٌو. لَنْ، د نفي د تاکید لپاره راځي.

٣: كَيْ لکه: اَسْلَمْتُ كَی اَدْخُلَ الْجَنَّةَ.

٤: اِذَنْ لکه: اِذَنْ اَشْكُرَكَ، د هغه چا په جواب کې ویل کیږي چې

وايي: اَنَااُعْطِيْکَ دِيْنَارًا.

فائده: اَنْ د شپږو حروفو وروسته مقدر (پټ) وي او فعل مضارع ته نصب ورکوي:

١: حَتَّى، لکه: مَرَرْتُ حَتّٰى اَدْخُلَ الْبَلَدَ.

٢: لام جحد، لکه: مَاکَانَ اللّٰهُ لِيُعَذِّبَهُمْ.

٣: اَوْ، چې د اِلَى، اَنْ. يَا. اِلَّا. اِنْ. په معنى وي لکه: لَاَلْزِمَنَّکَ اَوْ تُعْطِيْنِى حَقِّى اَىْ اِلَى اَنْ تُعْطِيْنِى حَقِّى.

٤: واو صرف، دا هغه واو ته وايي چې کوم شى پر معطوف عليه داخل وي هغه د دغه واو پر مدخول داخل نه سي لکه په دغه شعر کې:

لَاتَنْهَ عَنْ خُلُقٍ وَتَاْتِىَ مِثْلَهُ عَارٌ عَلَيْکَ اِذْ فَعَلْتَ عَظِيْمٌ

په دغه شعر کې د واو مدخول تَاْتِىَ مِثْلَهُ دى، پر دغه باندې د لاتنه لام نه سي داخليداى. د شعر معنى داده چې کوم بد کار ته کوې د هغه څخه نور مه منعه کوه ځکه که ته داسي کوې نو دا ډېره د شرم خبره ده.

٥: لَامَ کَى، لکه: اَسْلَمْتُ لِاَدْخُلَ الْجَنَّةَ.

٦: فاء چې د شپږو شيانو په جواب کې وي. ١: امر. ٢: نهي. ٣: نفي. ٤: استفهام. ٥: تمنى. ٦: عرض.

١: امر، لکه: زُرْنِى فَاُکْرِمَکَ.

٢: نهي. لکه: لَاتَشْتِمْنِى فَاُهِيْنَکَ.

۳: نفي . لکه: مَاتَاْتِيْنَا فَتُحَدِّثُنَا.

۴: استفهام. لکه: اَيْنَ بَيْتُكَ فَاَزُوْرَكَ.

۵: تمنی. لکه: لَيْتَ لِي مَالًا فَاُنْفِقَ مِنْهُ .

۶: عرض. لکه: اَلَاتَنْزِلُ بِنَا فَتُصِيْبَ خَيْرًا.

حروف جازمه پنځه دي:

اِنْ. لَمْ . لَمَّا .لَامِ اَمْرْ . لَا م نهی

مثالونه:

لَمْ يَنْصُرْ . لَمَّا يَنْصُرْ . لِيَنْصُرْ . لَايَنْصُرْ . اِنْ تَنْصُرْ اَنْصُرْ

اِنْ شرطيه پر دوو جملو داخليږي لکه: اِنْ تَضْرِبْ اَضْرِبْ . اولي جملې ته شرط او دوهمي جملې ته جزاء وايي. دغه اِنْ د مستقبل لپاره راځي که څه هم د ماضي پر صيغه راسي لکه اِنْ ضَرَبْتَ ضَرَبْتُ.

۱ – **فائده:** که د شرط جزاء جمله اسميه وي يا امر، نهي او يا دعاء وي نو د فاء په جزا کي راوړل ضروري دي لکه: اِنْ تَاْتِنِي فَاَنْتَ مُكْرَمٌ. اِنْ رَاَيْتَ زَيْدًا فَاَكْرِمْهُ. اِنْ اَتَاكَ عمرو فَلَا تَهْنه. اِنْ اَكْرَمْتَنِي فَجَزَاكَ اللّٰهُ خَيْرًا.

۲ – **فائده:** که ماضي د دعاء لپاره راسي يا حرف شرط وربانديي راسي يا اسم موصول داخل وي نو د مستقبل په معنی کيږي.

فصل: د افعالو عمل

پوه سئ چي هيڅ يو فعل داسي نسته چي عمل نه کوي. د عمل په اعتبار فعل پر دوه ډوله دی. ۱: معروف. ۲: مجهول.

بيا د فعل معروف دوه ډولونه دي. ۱: لازم. ۲: متعدي.

فعل معروف که لازم وي او که متعدي فاعل ته رفع ورکوي لکه قَامَ زَيْدٌ. ضَرَبَ عَمْرٌو. او شپږو اسمونه نصب ورکوي چي دادي:

۱: مفعول مطلق. ۲: مفعول فيه. ۳: مفعول معه. ۴: مفعول له. ۵: حال. ۶: تميز. بيان يې په منصوباتو کې تېر سوی دی.

مجهول فعل د فاعل پر ځای مفعول به ته رفع ورکوي او پاته مفعولاتو ته نصب ورکوي. لکه: ضُرِبَ زَيْدٌ يَوْمُ الْجُمُعَةِ. اَمَامَ الْاَمِيْرِ ضَرْبًا شَدِيْدًا فِي دَارِهِ تَاْدِيْبًا.

فعل مجهول ته فعل مالم يسم فاعله او د هغه مرفوع ته مفعول مالم يسم فاعله وايي.

فعل متعدي

۱: متعدي په يوه مفعول لکه ضَرَبَ زَيْدٌ عَمْرًا.

۲: متعدي په دوو مفعولو. چي په هغو کې د يوه مفعول ذکر کول جائز دي لکه اَعْطَى. او کوم چي د هغه هم معنی وي لکه اَعْطَيْتُ زَيْدًا دِرْهَمًا. دلته اَعْطَيْتُ زَيْدًا ويل هم جائز دي.

۳: متعدي په دوو مفعولو چي د يوه مفعول راوړل جائز دي او هغه

افعال قلوب دي :

رَاَيْتُ. وَجَدْتُ. عَلِمْتُ. زَعَمْتُ. حَسِبْتُ. خِلْتُ. ظَنَنْتُ.

مثالونه :

(١): رَاَيْتُ سَعِيْدًا ذَاهِبًا. (٢): وَجَدْتُ رَشِيْدًا عَالِمًا.

(٣): عَلِمْتُ عَمْرًا اَمِيْنًا. (٤): زَعَمْتُ اللّٰهَ غَفُوْرًا. (دیقین لپاره)

(٥): زَعَمْتُ الشَّيْطَانَ شَكُوْرًا (د شک لپاره)

(٦): حَسِبْتُ زَيْدًا فَاضِلًا. (٧): خِلْتُ خَالِدًا قَائِمًا.

(٨): ظَنَنْتُ بَكْرًا نَائِمًا.

۴: متعدي په درو مفعولو. او هغه دادي: اَعْلَمَ. اَرَى. اَنْبَاء. اَخْبَرَ. خَبَّرَ. نَبَّاء. حَدَّثَ

لکه: اَعْلَمْتُ زَيْدًا عَمْرًا فَاضِلًا. اَرَيْتُ عَمْرًا خَالِدًا نَائِمًا.

افعال ناقصه : دغه افعال د لازم کېدو سربېره یوازي په فاعل سره نه پوره کیږي بلکه د خبر محتاج هم وي. له همدې کبله ورته افعال ناقصه وایي. دغه افعال په جمله اسمیه کي مسندالیه ته رفع او مسند ته نصب ورکوي. دغه افعال دیارلس دي :

كَانَ. صَارَ. اَصْبَحَ. اَمْسَى وَاَضْحَى. ظَلَّ. بَاتَ.

مَابَرِحَ. مَادَامَ. مَاانْفَكَّ. لَيْسَ. مَافَتِئَ

مثالونه :

(١): كَانَ زَيْدٌ قَائِمًا.
(٢): صَارَ الطِّيْنُ خَزَفًا.
(٣): اَصْبَحَ زَيْدٌ غَنِيًّا.
(٤): اَضْحَى زَيْدٌ حَاكِمًا.
(٥): اَمْسَى عَمْرٌو قَائِمًا.
(٦): ظَلَّ بَكْرٌ كَاتِبًا.
(٧): بَاتَ خَالِدٌ نَائِمًا.
(٨): اِجْلِسْ مَادَامَ زَيْدٌ جَالِسًا.
(٩): مَابَرِحَ خَالِدٌ صَائِمًا.
(١٠): مَا اَنْفَكَّ وَحِيْدٌ عَاقِلًا.
(١١): مَافَتِئَ سَعِيْدٌ فَاضِلًا.
(١٢): مَازَالَ بَكْرٌ عَالِمًا
(١٣): لَيْسَ زَيْدٌ قَائِمًا.

افعال مقاربه : افعال مقاربه څلور دي : اَوْشَكَ، كَادَ، كَرُبَ ، عَسَى . اسم ته رفع ورکوي او خبر ته نصب .

مثالونه:

(١): عَسَى زَيْدٌ اَنْ يَخْرُجَ.
(٢): عَسَتِ الْمَرْاَةُ اَنْ تَقُوْمَ .
(٣): كَادَ عَمْرٌو يَذْهَبُ.
(٤): كَرَبَ خَالِدٌ يَجْلِسُ.
(٥): اَوْشَكَ بَكْرٌ اَنْ يَجِئَ.

افعال مدح و ذم : افعال مدح وذم هغه افعال دي چي د يو چا ښه والی او يا بدوالی بيانوي او هغه څلور دي: بِئْسَ، سَاءَ ،نِعْمَ ، حَبَّذَا. اسم او خبر ته رفع ورکوي .

بِئْسَ، سَاءَ : د ذم (بدی) لپاره دي . نِعْمَ ،او حَبَّذَا. د مدح (ښېګڼي)

لپاره دي.

مثالونه:

(١): بِئْسَ الرَّجُلُ عَمْرٌو. (٢): سَاءَ الرَّجُلُ زَيْدٌ.

(٣): نِعْمَ الرَّجُلُ عَمْرٌو. (٤): حَبَّذَا زَيْدٌ.

فائده: کوم لفظ چي ددغه افعالو د فاعل وروسته وي هغه ته مخصوص بالمدح یا مخصوص بالذم وایي. شرط دادی چي فاعل به معرف باللام وي لکه نِعْمَ الرَّجُلُ عَمْرٌو. او یا معرف باللام ته مضاف وي لکه: نِعْمَ صَاحِبُ الْعِلْمِ بَكْرٌ. یا فاعل ضمیر مستتر وي چي تمیز یې نکره منصوبه وي لکه نِعْمَ رَجُلاً زيدٌ. . په دغه مثال کي د نعم فاعل په هُوَ نِعم کي مستتر (پټ) دی او رجلا منصوب تمیز دی ځکه هو مبهم دی.

په حَبَّذَا زَيْدٌ ،کي حب فعل مدح دی او ذا د هغه فاعل دی او زید مخصوص بالمدح دی. همدارنګه بِئْسَ الرَّجُلُ عَمْرٌو او سَاءَ الرَّجُلُ زَيْدٌ.

افعال تعجب: د افعال تعجب دوې صیغې د هر ثلاثي مجرد څخه رائي. اول: مَاأَفْعَلَهُ. لکه: مَااَحْسَنَ زَيْدًا. تقدیر یې دادی: ىَّ شَئٍ اَحْسَنَ زَيْدًا. مَابمعنی اَىُّ شَئٍ د رفع په حالت کي مبتدا ده او احسن د رفع په حالت کي خبر دی او د احسن فاعل هو پکښې پټ دی او زیدا مفعول به دی.

ترکیب یې داسي دی: ما مبتدا، احسن فعل، په هغه کي ضمیر هو فاعل، زیدا مفعول به. فعل د خپل فاعل او مفعول به سره جمله فعلیه خبریه د مبتدا خبر، مبتدا او خبر جمله اسمیه انشائیه سوه.

دوهم: اَفْعِلْ بِهِ. لکه: اَحْسِنْ بِزَيْدٍ، اَحْسِنْ. اَحسِن د امر صیغه ده په معنی د فعل ماضي. تقدیر یې دادی: اَحْسَنَ زَيْدٌ. یعني صَارَ ذَا حُسْنٍ او باء یکښې زائده ده.

فصل: اسماء عامله

د اسماء عامله یوولس ډولونه دي:

۱: اسماء شرطیه: په معنی دِانْ، او هغه نهه دي:

مَنْ. مَهْمَا. مَتَى. اِذْمَا. وَمَا. اَيٌّ، حَيْثُمَا. انَّى، اَيْنَمَا

مثالونه:

مَنْ يُكْرِمْنِي اُكْرِمْهُ. مَهْمَاتَقْعُدْ اَقْعُدْ. مَتَى تَذْهَبْ اَذْهَبْ.

اِذْمَاتُسَافِرْ اُسَافِرْ. مَاتَشْتَرِ اَشْتَرِ. اَيُّهُمْ يَضْرِبْنِي اَضْرِبْهُ.

حَيْثُمَا تَقْعُدْ اَقْعُدْ. اَنَّى تَكْتُبْ اَكْتُبْ. اَيْنَمَا تَقْصُدْ اَقْصُدْ

۲: اسماء افعال: اسماء افعال نهه دي:

هَيْهَاتَ، شَتَّانَ. سَرْعَانَ. دُوْنَكَ، بَلْهَ، عَلَيْكَ، حَيَّهَلْ. رُوَيْدَ، هَا

مثالونه:

هَيْهَاتَ زَيْدٌ. شَتَّانَ زَيْدٌ وَعَمْرٌو. سَرْعَانَ عَمْرٌو

دغه درې د ماضي په معنی رائي او اسم ته د فاعلیت په وجه رفع

وركوي.

دُونَكَ عَمْرًا. بَلْهَ سَعِيْدًا. عَلَيْكَ بَكْرًا. حَيَّهَلِ الصَّلوٰةَ. رُوَيْدَ زَيْدًا.

هَاخَالِدًا.

دغه شپږ د امر حاضر په معنی راځي او اسم ته د مفعولیت په وجه نصب ورکوي.

۳: **اسم فاعل:** اسم فاعل د فعل معروف عمل کوي. يعني فاعل ته رفع او مفعول به ته نصب ورکوي، په دوو شرطو سره. يو دا چي اسم فاعل د حال يا استقبال په معنی وي، دوهم دا چي تر هغه مخکي مبتداء وي لکه زيدٌ قائمٌ ابُوهُ. زَيْدٌ ضَارِبٌ ابوهُ عمرًا.

او يا موصوف وي لکه: مَرَرْتُ بِرَجُلٍ ضَارِبٍ اَبُوْهُ بَكْرًا.

او يا موصول وي لکه: جَاءَنِي الْقَائِمُ اَبُوْهُ. جَاءَنِي الضَّارِبُ اَبُوْهُ عَمْرًا.

او يا ذوالحال وي لکه: جَاءَنِي زَيْدٌ رَاكِبًا غُلَامُهُ فَرَسًا.

ياهمزه استفهام وي لکه: اَضَارِبٌ زَيْدٌ عَمْرًا.

يا حرف نفي وي لکه: مَاقَائِمٌ زَيْدٌ.

کوم عمل چي قَامَ يا ضَرَبَ کوی. هغه عمل قَائِمٌ يا ضَارِبٌ هم کوي.

۴: **اسم مفعول:** اسم مفعول د فعل مجهول عمل کوي يعني مفعول مالم يسم فاعله ته رفع ورکوي. د اسم مفعول د عمل کولو هم دوه شرطونه دي:

اول: دا چي په معنی د حال يا استقبال وي.

دوهم: دا چي تر هغه مخکي مبتداء يا بل شی وي لکه: زَيْدٌ مَضْرُوْبٌ اَبُوْهُ، وَعَمْرٌو مُعْطًى غُلَامُهُ دِرْهَمًا. بَكْرٌ مَعْلُوْمٌ اِبْنُهُ فَاضِلًا. وَخَالِدٌ مُخْبَرٌ اِبْنُهُ عَمْرًا فَاضِلًا.

کوم عمل چي ضُرِبَ. اُعْطِيَ. عُلِمَ. اُخْبِرَ کوی. هغه عمل مَضْرُوْبٌ، مُعْطًى، مَعْلُوْمٌ هم کوي.

۵: **صفت مشبه**: صفت مشبه هم د خپل فعل عمل کوي په ذکر سوي شرط سره لکه: زَيْدٌ حَسَنٌ غُلَامُهُ.

کوم عمل چي حَسُنَ کوی. هغه عمل حَسَنٌ هم کوي،

٦: **اسم تفضيل**: د اسم تفضيل استعمال پر دري ډوله دی:

د مِنْ سره. لکه: زَيْدٌ اَفْضَلُ مِنْ عَمْرٍو.

د الف لام سره. لکه: زَيْدٌ اَفْضَلُ الْقَوْمِ.

د اضافت سره لکه: زَيْدٌ اَفْضَلُ الْقَوْمِ.

د اسم تفضيل عمل د هغه په فاعل کي وي او هغه ضمير هو دی چي پکښي پټ دی.

۷: **مصدر**: په شرط د دې چي مفعول مطلق نه وي، د خپل فعل عمل کوي لکه: اَعْجَبَنِي ضَرْبُ زَيْدٍ عَمْرًا.

۸: **اسم مضاف**: مضاف اليه مجرور کوي لکه: جَاءَنِي غُلَامُ زَيْدٍ، دلته لام په حقيقت کي مقدر دی، ځکه تقديري داسي دی: غُلَامٌ لِزَيْدٍ

۹: **اسم تام:** تميز ته نصب ورکوي او د اسم تام (پوره) کېدل يا په تنوين سره وي لکه مَافِي السَّمَاءِ قَدَرُ رَاحَةٍ سَحَابًا.

يا په تقدير تنوين سره لکه: عِنْدِیْ اَحَدَ عَشَرَ رَجُلًا. زَيْدٌ اَكْثَرَ مِنْكَ مَالًا.

يا په نون تثنيه سره لکه: عِنْدِیْ قَفِيْزَانِ بُرًّا.

يا په نون جمع سره لکه: عِنْدِی عِشْرُوْنَ دِرْهَمًا.

۱۰: **اسماء کنايه،** کَمْ، کَذَا.

کَم پر دوه ډوله دی: استفهاميه، خبريه.

استفهاميه کَم تميز ته نصب ورکوي او کَذَا هم لکه: کَمْ رَجُلاً عِنْدَكَ عِنْدِیْ کَذَا دِرْهَمًا.

خبريه کم تميز ته جر (زبر) ورکوي لکه: کَمْ مَالٍ اَنْفَقْتَ وَ کَمْ دَارٍ بَنَيْتَ. او کله مِن جاريه د کَم خبريه پر تميز رائي لکه په قران کريم کي دي: کَمْ مِنْ مَلَكٍ فِي السَّمٰوَاتِ.

فصل:

د عواملو دوهم ډول معنوي

عامل معنوي هغه دي چي په بنکاره الفاظو کي موجود نه وي، دا پر دوه ډوله دي:

۱: ابتداء، يعني د اسم د عامل لفظي څخه خالي کېدل، مبتدا ته رفع ورکوي لکه: زَيْدٌ قَائِمٌ. په دغه جمله کي زيد مبتدا ده چي د ابتداء څخه مرفوع دی او قائم خبر هم په مبتداء سره مرفوع دی، يعني په

دواړو مبتدا او خبر کي ابتداء عامل دی.

په دې اړه دوه نور مذهبونه دي، یو دا چي ابتدا په مبتدا کي عمل کوي او مبتدا په خبر کي، دوهم دا چي په مبتدا او خبر کي هر یو په یو بل کي عمل کوي یعني مبتدا په خبر کي او خبر په مبتدا کي.

۲: په فعل مضارع کي د ناصب او جازم نه کېدل. فعل مضارع ته رفع ورکوي لکه: يَضْرِبُ زَيْدٌ. په دغه جمله کي يضربُ مرفوع دی ځکه د ناصب او جازم څخه خالي دی.

فصل: حروف غیر عامله

حروف غیر عامله اووه لس ډوله دي:

۱: **حروف تنبیه:** اَلَا، اَمَا، هَيَا. دغه حروف پر جملې راځي د مخاطب د غفلت لیري کولو لپاره لکه: اِلَّا زَيْدٌ قَائِمٌ. اَمَا عَمْرٌو نَائِمٌ. هَاانَا حَاضِرٌ.

۲: **حروف ایجاب:** نَعَمْ. بَلى. اَجَلْ. اِىْ. جَيْرَ. اِنَّ.

نَعَم، د مخکي خبري تصدیق کوي که هغه خبره په نفي کي وي یا په اثبات کي لکه یو څوک چي ووایي: مَاجَاءَ زَيْدٌ. نو په جواب کي ویل کیږي چي: نَعَم، یعني مَاجَاءَ زَيْدٌ. همدارنګه کله چي وویل سي: ذَهَبَ عَمْرٌو، نو په جواب کي ویل کیږي چي نَعَم، یعني ذَهَبَ عَمْرٌو، بَلى. د منفي د اثبات لپاره راځي لکه: اَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ؟ قَالُوْا بَلَى يَعْنِي بَلَى

اَنتَ رَبُّنَا ،

اَیْ د نَعَمْ په ډول دی، یوازي دا فرق دی چي اَیْ ، د استفهام وروسته د قسم سره رائي لکه یو څوک چي ووایي: اَقَامَ زَیْدٌ . په جواب کي وویل سي: اِیْ وَاللّٰه ،

اَجَلْ او جَیْر هم د نَعَمْ په ډول دی مګر دلته قسم ضروري نه دی. هم دا ډول دی مګر استعمال یې کم دی .

۳: **حروف تفسیر**: اَیْ وَ اِنَّ ، لکه: جَاءَنِي زَیْدٌ اَیْ اَبُوکَ. او په قرآن کریم کي دي: نَادَیْنَاهُ اَنْ یَّآ اِبْرَاهِیْمَ یَعْنِي نَادَیْنَاهُ بِلَفْظِ هُمْ قَوْلُنَا یَا اِبْرَاهِیْمُ ،

۴: **حروف مصدریه**: او هغه درې دي: مَا وَاَنْ و اَنَّ .

مَا وَاَنْ .فعل د مصدر په معنی کوي لکه: ضَاقَتْ عَلَیْهِمُ الْاَرْضُ بِمَارَحُبَتْ اَیْ بِرُحْبِهَا وَاَعْجَبَنِي اَنْ ضَرَبْتَ اَیْ ضَرْبُکَ.

اَنَّ ،پر جمله اسمیه باندي داخلیږي لکه: بَلَغَنِيْ اَنَّ زَیْدًا نَائِمٌ اَیْ نَوْمُهُ .

۵: **حروف تحضیض**: او هغه څلور دي: اَلَّا . هَلَّا . لَوْمَا . لَوْلَا .

دغه حروف که پر فعل مضارع راسي نو پاروي او شوق ورکول مقصد وي لکه: هَلَّا تُصَلِّي ؟ته ولي لمونځ نه کوې؟ او له همدې کبله ورته حروف تحضیض وایي ځکه د تحضیض معنی د پارولو او شوق ورکولو ده ،نبه فکر وکړه ..

او که چيري دغه حروف پر فعل ماضي داخل وي نو بيا د مخاطب پښېمانه کول مقصد وي لکه: هَلَّا صَلَّيْتَ الْعَصْرَ ؟ ته ولي د مازديګر لمونځ ونه کړ. ځکه دې ته حروف تنديم هم وايي.

٦ : **حروف توقع**: او هغه قَدْ دی. دغه حرف فعل ماضي قريب کوي او د بيله شکه معنی ورکوي. او په مضارع کي تقليل (لږوالی) معنی ورکوي لکه: قَدْجَاءَ زَيْدٌ . زيد راغلی دی. يا بيله شکه زيد راغلی دی. او : قَدْيَجِئُ زَيْدٌ ، زيد کله ناکله رائي. او کله په مضارع کي هم د بيله شکه معنی ورکوي لکه: قَدْ يَعْلَمُ اللّٰهُ ،بيله شکه الله ﷻ پوهيږي.

٧ : **حروف استفهام**: او هغه درې دي: مَا. هَمْزَه. هَلْ . دغه درې سره حروف د جملې په شروع کي رائي لکه: مَااِسْمُکَ؟ اَزَيْدٌ قَائِمٌ؟ هَلْ زَيْدٌ قَائِمٌ؟.

٨ : **حرف ردع**: او هغه كَلَّا دی. دغه لفظ د انکار او منع لپاره رائي لکه يو څوک چې ووايي: كَفَرَ زَيْدٌ . نو په جواب کي وويل سي: كَلَّا ، هيڅکله نه .

او كَلَّا د حَقًّا يعني بيله شکه، په معنی هم رائي لکه: كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ،بيله شکه به ژر به تاسو پوه سئ.

٩ : **تنوين**: او دا څو ډوله وي چې په هغو کي دوه دادي:

۱: تمکن لکه: زَيْدٌ . ۲: عوض لکه: يَوْمَئِذٍ .

يَوْمٌ د اِذْ. كَانَ. گَذَا . په عوض کي ويل کيږي او حِيْنَئِذٍ، د حِيْنَ اِذْكَانَ گَذَا ، پر ځای ويل کيږي .

۱۰: **نون تاکيد**: لکه اِضْرِبَنَّ، اِضْرِبَنْ .

۱۱: **لام مفتوحه**: د تاکيد لپاره راځي لکه: لَزَيْدٍ اَفْضَلُ مِنْ عَمْرٍو .

۱۲: **حروف زيادت**: او هغه اته دي: اِنْ. اَنْ. مَا. لَا . مِنْ. كَاف. بَا. لَام

مثالونه :

مَا اِنْ زَيْدٌ قَائِمٌ. فَلَمَّا اِنْ جَآءَ الْبَشِيْرُ. اِذْ مَا تَخْرُجُ اَخْرُجْ. مَاجَاءَنِي زَيْدٌ وَلَاعَمْرٌو. مَاجَاءَنِي مِنْ اَحَدٍ. لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَئٌ. مَازَيْدُ بِقَائِمٍ. رَدِفَ لَكُمْ .

۱۲: **حروف شرط**: اَمَّا. لَوْ ،

اَمَّا . د تفسير لپاره راځي او فَا د هغه په جواب کي راوړل ضروري دي.

لکه د الله ﷻ دغه فرمان: فَمِنْهُمْ شَقِيٌّ وَّسَعِيْدٌ فَاَمَّا الَّذِيْنَ شَقُوْ فَفِي النَّارِ. وَاَمَّا الَّذِيْنَ سُعِدُوْا فَفِي الْجَنَّةِ .

لَوْ .د دوهمي جملې نفي څرګندوي د مخکي جملې د نفي کيدو په سبب لکه په قرآن کريم کي دي: لَوْكَانَ فِيْهِمَا اٰلِهَةٌ اِلَّا اللّٰهُ لَفَسَدَتَا . که په مځکه او آسمان کي د پر خدايان واى ماسوا د الله ﷻ څخه نو دوارِد به تباه سوي واى. مګر څرنګه چي د پر خدايان نسته ځکه نو تباه سوي نه دي.

١٤: لَوْلَا. دا د بلي خبري نفي کول د مخکي خبَري د کېدو په سبب لکه : لَوْلَازَيْدٌ لَهَلَکَ عَمرٌو . که چيري زيد نه واى نو عمرو به هلاک سوى واى. (مګر زيد وو ځکه نو عمرو هلاک نه سو).

١٥: مَا بمعنى مَادَامَ: لکه: اَقَوْمُ مَاجَلَسَ الْاَمِيْرُ .زه به ولاړ يم تر څو چي امير کښېني.

١٦: **حروف عطف**: او هغه لس دي: (١): واؤ. (٢): فَا. (٣): ثُمَّ. (٤): حَتَّى. (٥): اَمَّا. (٦): اَوْ. (٧): اَمْ. (٨): لَا. (٩): بَلْ. (١٠): لَكِنَّ،

تمت بالخير



صداقت کتب خانه کندهار